ادع الى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي احسن الاية

د توحید او جهاد مجله

دعوت

د افغانستان د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة د افکارو خپرونکی

۲۵ گڼه

د جماعة الدعوة موقف:

مونږ هره هغه غونډه او جلسه چه د افغانستان د روانی کشالی د حل او د ملك او ملت د سلامتیا او څوکالی په اړوند د هرچا له خوا، په هر ځای کی چی دائرېږی تائیدوو او ښه راغلاست ورته وایو.

الهی فرمان

بسم الله الرحمن الرحيم

«يا أيها الذين أمنوا كلوا من طيبت ما رزقنكم
واشكرواالله إن كنتم إيّاه تعبدون»*

(البقرة-۱۷۲)

ترجمه: يعني؛ ای کسانيکه ايمان اورده ايد!
بخوريد از چيزهای لذيذ و حلال و پاکيکه روزی
داديم شمارا و سپاس گوئيد اللّه را، اگر او را
می پرستيد.

دعوت

د توحید او جهاد مجله

بسم الله الرحمن الرحيم

«قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين»
سورة يوسف (١٠٨)

دامتياز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الى القرآن والسنة
مؤسس: شهيدشيخ جميل الرحمن (رحمه الله)
سرپرست: الشيخ سميع الله
خپرونكى اداره: ددعوت او ارشاد رياست

اووم كال پرله پسي گڼه (٣٥) ١٤١٥ هـ ق د محرم الحرام او صفرئ مياشتي

دهيئت تحرير تر نظارت لاندى

ددی گڼی مطالب

عنوان	مخ
١- د سولي غونډي او بى طرفى (١-سرمقاله).....	٢
٢- د دعوت د مجلى اووم ....(٢-سرمقاله).......	٥
٣- يوه هفته په كابل كى ليدلى كتلى (راپور)	٧
٤- د كونړ منتخب والى قاضى اخونزاده (راپور) ..	١٠
٥- ډگر جنرال سيد محمد موسى (مركه)	١٣
٦- اسلامى تمدن (دينى مضمون)	١٦
٧- سلفى تحريك ته يوه كتنه (مضمون)	٢٠
٨- د جهاد د كاميابى نه وروسته (شعر)	٢٥
٩- پايمال شول(شعر)	٢٧
١٠- ايا صربيان هم يهوديان دى؟ (مضمون)......	٢٨
١١- اسلامى امارت (مركه)	٣١
١٢- د يمن جگړه (معلوماتى مضمون)	٣٤
١٣- د دين مفهوم (دينى مضمون)	٣٧
١٤-كشمير (معلوماتى مضمون)	٤٠
١٥- پرسشهاى شما در ... (خط ارسالى)	٤٢
١٦- د تنظيم طلبه سلفيه ... (راپور)	٤٥
١٧- مولوي حضرت احمد ... (سوانح)	٤٨
١٨- د ليكونو بهير (ستا سو ليكونه)	٤٩

په پاكستان كى د
گډون بيه:
مياشتنى: ١٠ كلدارى
كلنى: ١٠٠ كلدارى

په نورو بهرنيو هيوادونوكى د
گډون بيه:
مياشتنى : ٢ امريكائى ډالر
كلنى : ١٠ امريكائى ډالر

په داخل او په پاكستان كى زمونږ نمايندگان

په داخل كى : لعل محمد «افسوس»
اسلام آباد : عفيف احمد
پيښور : غنى الله «مسلم»
لاهور : حماد شاكر
كراچى : چوهدرى ظهور احمد
كوئټه : عرفان منگل
مظفر آباد: بشير قريشى

په نورو بهرنيو هيوادونو كى زمونږ نمايندگان

سعودى عرب : فيضان الله
امريكا : عبدالرحمن احمد
بريطانيا : منور على
جرمنى : وائى - ايم حميم
هالينډ : عماد الدين بكرى اسماعيل

كمپوزر: عنايت الله «توحيدى»

مكاتباتي پته : «دعوت مجله» - پوست بكس نمبر ٦١٤ پشاور پاكستان
بانكى حساب: افغان اسلامي خبرى اداره - اكاونت نمبر ٧-١٠٦٣ - نشنل بينك - صدر روډ- پشاور.

بسم الله الرحمن الرحيم

١ سرمقاله

د سولې غونډې او بې طرفي

له کوم وخت نه چې د روسی برېڅو په لاس د وران ويجاړ افغانستان د سرنوشت مسئله جهادی تنظيمونو ته حواله شوی، له بده مرغه ورسره جوخت ذات البينی اختلافاتو او بهرنيو لاس وهنو هم سر راپورته کړی دی او ترڅنګ ئی د نيکو او خير غوښتونکو اشخاصو او محافلو د سولی او خير غوښتنی هلی ځلی، غونډی او منډی ترړی هم په ډله ايز او ځانګړی ډول ملګری شوی دی چې په دی لړ کی د جلال آباد د جهادی شورئ، د مولوی صاحب جلال الدين «حقانی» د حرمينو د امام، د اسلامی کنفرانس د مسؤلينو هلی ځلی د يادونی وړ دی.

په دی نژدی ورځو کی د هرات تاريخی غونډه چې د روان هجری شمسی کال د اسد د مياشتی په لومړی هفته کی د هرات په تاريخی ښار کی داير شوه د کورنيو او بهرنيو سياسی محافلو د پام وړ وګرځيده. په دی غونډه کی د هيواد د (٢٥) ولاياتو له واليانو، جهادی قومندانانو، عالمانو، روحانيونو او روشنفکرانو سربيره په بهر کی اوسيدونکو افغانانو، پوهانو، روشنفکرانو او حتیٰ د افغانستان پخوانی صدراعظم او پخوانيو وزيرانو هم برخه اخيستی وه چې شمير ئی له اوه سوه کسانو څخه زيات وو. غونډی پنځه ورځی دوام درلود او هره ورځ په کی د بيان په پوره آزادی سره د افغانستان د روانی کشالی د حل په هکله اوږده او لنډ بحثونه او نظريات تبادله کيدل. د پنځمی ورځی په پای کی نتيجه او فيصله اعلان او غونډه پای ته ورسيده.

د غونډی د پريکړو له جملی څخه يوه دا وه چې د افغانستان د راتلونکی منځ مهاله حکومت د ټاکلو لپاره بايد لويه جرګه راوبلل شی، بله دا وه چې يوه سل زره کسيزه اسلامی اردو بايد جوړه شی او بله هم استاد ربانی ته دی نور دری مياشتی وخت ورکولو پريکړه وه، څو پدغه موده کی يو منځ مهاله حکومت جوړ او استاد ربانی ورته د حکومت واك وسپاری.

داچې د غونډی محتویٰ څنګه او يا ګډون کوونکی ئی څوك وو؟ د ملت نمايندګان وو که نه وو؟

د تنظیمونو مشران وو که د هغوی استازی؟ په خپلو تصامیمو کی مقتدر وو که کمزوری؟ په مجموع کی دا هغه پوښتنی دی چی له بهانه کوونکو سره د خپل استدلال په قوت کی مرسته کولای شی، خو هغه څه چی حقیقت او د اهمیت وړ دی دادی چی ددی غونډی ګډون کوونکی افغانان او د هیواد په درد دردیدلی خلك وو، ددی خاوری بچیان او اوسیدونکی وو او د ملك د روان وران ویجاړ حالت د ختمولو فکر ورسره وو.

د اهمیت وړ خبره دا وه چی کله د هرات د غونډی مقدمات شروع او د پیل تاریخ ئی اعلان شو، نو سمدستی زمونږ ځینی مشرانو د خپلو عادتونو سره سم ددی غونډی په هکله ځینی شکوك او شبهات پیداکړل، چا دا غونډه یو جنګیدونکی لوری ته منسوب کړه، چا د مستقلی پادشاهی او چا هم د بی طرفی اعلان وکړ او چا ئی صریح او بربنډ مخالفت وکړ، بیله دی چی د غونډی پریکړه وکتی شی او یا ئی عواقب تر غور او څیړنی لاندی ونیسی.

په هرحال، ددی غونډی د ناکامولو او پدی غونډه کی د ګډون کوونکو د روحیاتو او جذباتو د مجروح کولو لپاره ډول ډول پلانونه طرح او په کار واچول شول. داچی ددی غونډی پریکړی به عملی شی که نه؟ غونډه کامیابه وه که ناکامه؟ دا وروستی خبره ده، هغه څه چی د ډیر سوچ او فکر وړ دی دادی چی آخر به کیږی څه؟ داچی نن دا غونډه یو چاته منسوب او د ناکامی کوشش ئی وشی او سبا بله غونډه بل چاته منسوب او د ناکامی لپاره ئی هلی ځلی وشی، دا لړی به همداسی تر آبده جاری وی او د اسلام اوهیواد دښمنان به خوشحاله او افغانان به په خپل بل کړی اور کی پخپله سوزی.

دلته هر ذهن ته دا سوال پیداکیږی او ضروری ځواب غواړی چی آخر دا نه پخلاکیدونکی مسلمان مشران به په کومه خاوره، تر کوم شعار لاندی، د کوم مرام لپاره او د کوم فشار په زور راجمع شی؟ دا که بهرنی لاسونه زمونږ د افغانی ابتکاراتو د ناکامیدو لپاره لار هواروی نو هم دی نور زمونږ افغانانو په حال رحم وکړی او که دا داخلی ذاتی اغراض وی چی افغانان خپلو منځو کی یوځای کیناستو او یو موټی کیدو ته نه پریږدی، نو دوی دی هم زمونږ د دردیدلو، زوریدلو او کړیدلو افغانانو په حال باندی رحم وکړی او نور دی ددوی په زخمونو باندی مالګی نه دوړوی.

د تعجب او حیرانتیا وړ خبره خو داده چی د هیواد پدی حساسو شرایطو کی چی ټول خلك د یوی بی مفهومی جګړی په لمبو کی سوځی، د تنظیمونو یو شمیر مشران په خپلو مخونو د بی طرفی ماسك غوړوی او پدی بهانه د هرات په غونډه کی له ګډون څخه ډډه کوی. زمونږ په نظر که

د هرات د غونډۍ په هکله له معترضینو او بې طرفانو سره کوم ملاحظات موجود وای، نو ښه داوه چې په دغه غونډه کې ئې په ډاګه ښکاره کړې او اعلان کړې وای، له مخکې نه ئې باید فال ته ځان نه وای تسلیم کړی.

مونږ دتل لپاره په هر ډول شرایطو کې خپل غوځ دریځ او ډاګیزه موقف ښکاره اعلان کړی او بیا ئې هم اعلانوو چې زمونږ موقف د «تعاونوا علی البر والتقوا ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان» په اساس همداسې دی چې مونږ هره هغه غونډه او جلسه چې د افغانستان د روانې کشالې د حل او د ملك او ملت د سلامتیا او سوکالۍ په اړوند د هرچا له خوا، په هرځای کې دایریږي، تائیدوو، ښه راغلاست ورته وایو او مرسته ورسره کوو او له نورو مسلمانانو څخه هم همداسې توقع لرو او وایو چې: «وینې په وینو وینځل نه دي پکار» وینې باید په اوبو ووینځل شي، د اسلام او هیواد ګټې باید ترټولو ګوندي او شخصي ګټو لوړې وګڼل شي، پاتې شوه د اختلاف خبره، هرڅوك په غونډه کې خپل نظر څرګندولای او د بل نظر تردیدولای شي، هیڅوك پرچا خپل نظر په زور نه شي قبلولای، خو د رغنده غونډو تردیدول، تقبیح کول او له مخکې نه پرې بد فال نیول له معقولیت نه لیرې کار دی.

زمونږ په نظر پدې شرایطو او حالاتو کې د بې طرفۍ او مخالفت موقف یو شان دی او صحیح راته نه بریښي، که همدغو بې طرفو قیادتونو د خپل برداشت او دید له مخې یو اړخ مضبوط کړی وای نو د افغانستان روانه کشاله به دومره نه وای اوږده شوې. د ډیر افسوس ځای دی چې زمونږ یو شمیر مشران د افغانې ابتکاراتو پر بنیاد د ولاړو هڅو تر څنګ نه ودریږي، خو د بهرنیو حلونو په تمه چې هغه هم مشکوك دي، «نقد په قرض بدلوي» او د پردو له آواز سره خپل آواز غبرګوي چې په نتیجه کې دا مظلوم ملت یوځل بیا د پردو رحم او کرم ته اړباسي.

(د یو روڼ اسلامي سباون په هیله)

۲

سرمقاله

د «دعوت» مجلی د اووم نشراتی کال په ویاړ څوټکی

الحمد لله الذی هدی نا صراط المستقیم، صراط الذی یعمل عملاً صالحاً بهدایة الکتاب والسنة والصلاة والسلام علی من لا نبی بعده، اما بعد:

«دعوت» مجله د افغانستان د جماعةالدعوة الی القرآن والسنة جهادی تنظیم نشراتی ارگان او دخپل مؤسس شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په نوښت ئی په کار پیل کړی او د توحید د شرك ځپونکی آواز خپرؤنکی ده، د صالحینو سلفو لار تعقیبوی او زیار باسی چی د نوی تمدن په نوم د نړی د ظلمتکدی تیاره گوټونه د الله جل جلاله د کتاب او د الله دوروستی پیغمبر صلی الله علیه وسلم د سنتو په وړانگینو انوارو روښانه کړی.

د «دعوت» مجلی کارکوونکی ویاړی چی د خپل کار اوزیار په لار کی اووم نشراتی کال پداسی حال پری رانوی شو چی لا د «دعوت» مجلی او ددی مجلی د محترمو لوستونکو په خدمت کی لگیا دی او د خپل نیمگړی توان په اندازه د خپلو مسلمانانو وورنو د عقیدی د تصحیح او د اخلاقو داصلاح او سمون په لیار کی د امر بالمعروف او نهی عن المنکر او دعوت الی الله سپیڅلی وظیفه پرمخ بیائی.

«دعوت» مجلی پداسی شرایطو کی په خپلو نیمگړو نشراتو پیل وکړ چی کمونیستی هیولاء نه یوازی د افغان ولس ارضی تمامیت تر پښو لاندی کړی ؤ بلکه ددی غیرتی او په دین او هیواد مین ولس د فرهنگی او کلتوری زیرمو د تالا ترغی کولو او رژولو لپاره ئی هم په خپل زعم پاخه او متین پروگرامونه تر لاس لاندی نیولی وو. دی مجلی وکړای شول چی د هجرت او جهاد په پیچلو او له هر ډول ستونزونه په ډکو شرایطو کی خپله اغزنه لار په پوره صبر او متانت سره ووهی، البته د .موږونو او کړلیچو ډیروالی او د لاری ستغ توب به د څه وخت لپاره دمی ته اړویستلی وی، خو د شیمی دموندو پصورت کی بیا پرمخ روانه ده او د تکامل پړاؤنه وهی.

دا ښکاره ده چی وائی: « هرچاته خپل ځیز ښاغلی ښکاری» خو مونږ پدی خوښ یو چی په هغه وخت

کی چی زمونږ د هیواد مجاهد خلك په خالی لاس یوازی د یو الله جل جلاله په اتکاء او نه ماتیدونکی ایمان سره د یو نړی وال قدرت په مقابل کی ډغره ووهله نو دی مجلی د خپلو مسلمانو خلکو د دادمن تکل د لا پیاوړی کیدو په نیت د قلم په ژبه الهی مرستی وریادولی، الهی لارښودنی ئی ورښودلی او پدی وسیله ئی د خپلو مجاهدو ورونو حوصله افزائی کوله او پدی اړوند ئی د قلمی جهاد مسؤلیت تر سره کاوه.

د کوم وخت راهیسی چی د افغانستان سیاسی قدرت مجاهدینو ته انتقال شوی د «دعوت» مجلی زیار ایستلی چی د چارو مسؤلین خصوصاً جهادی مشرتابه خپلو خطاؤ ته متوجه کړی، د ذات البینی اختلافاتو د ختمولو لپاره ئی گټور وړاندیزونه کړی، د خیر غوښتنی او صلحی غوښتنی پیغامونه ئی نشرته سپارلی، همدارنگه دی مجلی هڅه کړی چی مسلمان هیواد وال د اسلام ددښمنانو له ډول ډول نیرنگونو او رنگونو څخه په خپل وخت خبر کړی، د منافقینو اصلی څیری، چی په جهادی لیکو کی د فتنو اصلی اور بلوونکی او درز اچوونکی دی، خلکو ته په گوته کړی او الحمد لله چی په خپلو لږو وسایلو او امکا ناتو سره ئی تر یوه حده پوری خپل شرعی رسالت سرته رسولی او ادامه لری.

د «دعوت» دمجلی کارکوونکی د خپل مجلی اووم تلین پداسی شرایطو کی نمانځی چی هیڅ توقع ئی نه کیده او هیواد لا هماغسی د کمونیستانو پلاس په بل شوی اور کی سوزی. زمونږ شهید مشر به د تل لپاره جهادی مشرانو ته ددی ډول پیښو د راتلو په باب پیشگوئی گانی کولی اوویل به ئی چی جهادی مشران دی خپل اختلافات د قرآن او سنت په رڼا کی حل او فصل کړی،کنه نو لدی څخه به په راتلونکی کی داسی اوربل شی چی دمړکولو توان به ئی، له هیڅ چا سره نه وی، شهید (رحمه الله) به ویل چی جهادی مشران دی له الله رب العزت نه ووېرېږي او د خپلو مجاهدو ورونو د تربیی لپاره دی په جهادی قرارگاگانو کی د قرآن او سنت تدریس شروع کړی، څو مجاهدین خپله لار وپیژنی او د جهاد په دوران کی له بی بندو باریو څخه ځان وژغوری.

په هر صورت، «دعوت» مجله زیار باسی چی په اوس او راتلونکی کی دقرآن او سنت علمبرداره، په مسایلو او احکامو کی د صحابه ؤ او تابعینو او تبع تابعینو په لاریون وکړی، د هیواد په اړونده مسایلو کی به د تل لپاره د «تعاونوا علی البر والتقوی ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان» په اساس د «امر بالمعروف، نهی عن المنکر او دعوت الی الله» چاری پرمخ بیائی او پدی لارکی به دهیڅ «لایم» له «لوم» څخه ونه ویریږی.

(و ماتوفیقی الا بالله العزیز)

یوه هفته په کابل کی لیدلی کتلی

په کابل کی د مجلی خبریال

هسي خو هم چي سړي بهرني راډیوګاني اوري او یا د سیاسی او نظامی صورت حال په لړ کی د جنګ او خطر زګنالونو ته فکر کوی نو چی سخت ضرورت ئی نه وی کابل ته د ورتګ دپاره زړه نه ښه کوی.

زه هم په کابل کی ددعوت د مجلی دپاره کار کوم، د نشراتی پلان سره سم د جنګ د خبرونو سره سره د هفتی په لومړی ورځ د (شنبی) په سهار د جلال آباد نه د کابل په لوری وخوځیدم، په دی ورځ د موټرو په اډه کی حالات بدل وو سورلی ډیری وی او موټری کمی او علت ئی یو دا ښودل کیده چی د افغانی په مقابل کی د کلداری بیه اوچته شوی ده او بل داچی د کابل جلال آباد په ترانزیت سرك باندی اچول شوو پاټکونو د پخوا په نسبت د پیسو د اخستلو رقم اوچت کړی وو او هغوی هم د سیکړی د ټیټیدو خبره کلکه کړی وه.

په دی ورځ د ملی بسونو کرایه اوه زره او د فلاینګ کوچ کرایه ترخیرخانی پوری چی د امن په محفوظی علاقی سره ئی په کابل کی شهرت پیداکړی دی د کلینرانو په ذریعه لس زره افغانی اعلان کړی شوه. دا چی تر کابله پوری د چلوونکی او د هغه د همکار (کلینر) او د پاټکونو د ټوپك والا ؤ و ترمنځ څومره شخړی پیښی شوی څومره ناندری ووهل شوی او څومره پیسی تری واخستی شوی دقیق رقم راسره نشته خو چی څومره بی انصافی او بی عدالتی شوی ده هغه د اسلامیت، انسانیت او تولنیزی معاشری په قاموس کی نشی راتلی او اصولاً سړی ویلی شی چی په دی لاره کی بشپړه خودسری ده او د ټوپك قانون نافذ دی.

په دی لاره کی داسی پاټکونه هم ولیدل شول چی صرف دوه کسان ټوپك والا به یو لوی ګټ ته غلی ناست وو او ناڅاپه به د موټرو مخی ته شول او خپل ناجایز باج به ئی بی ددی نه چی کوم دلیل ورته پیداکړی خپل شی (یعنی حق العبور) په پټه خوله په ښی لاس تسلیم کړ او بیا به ئی ورته د حرکت اجازه ورکړه.

کابل ته په ورداخلیدو سره سم په جاده میوند او مکرویانو کی چی د جنګ اول خط دی دزی اوریدل کیدی، ځینی کسان چی د جنګ خبرونه ئی د راډیوګانو د خولی اوریدل او عملاً ئی ډزی اوریدلی بی چرته شول، خو هغه چی له ډزو سره بلد وو په عادی حالت کی د موټر نه کیوتل او په بیلابیلو لارو روان شول.

که سړی په خیرخانه کی د کابل د مهاجرو جم او جوش وګوری نو فکر کوی چی په کابل کی هیڅ خبره نشته خو چی بیا وګوری چی هرچا د خپل کور سامان د خپل کور په مخ کی لیلام کړی او د همدی لاری نه بیګاه ته خپلو ماشومانو ته حلاله نفقه پیداکوی بیا پوهیږی چی جنګ

ځومره لوی افت دی او اقتصادی کلابندی ځومره سخته ده.

په دی ورځ خال خال دزی روانی وی خو د مازدیگر په څلورو بجو درز شو چی پنځه مزائیل په پرله پسی توگه د کانتی نینتل هوټل په شپږم منزل باندی ولگیدل او د څو دقیقو لپاره ورنه لوگی ختل. په دی بین المللی هوټل کی د اوضاع د خرابی په وجه بهرنی میلمانه نشته خو یو زیات شمیر بی کوره او مسافر وزیران او لوی رئیسان دیره دی او سرکاری طور ورته اعاشه حواله ده، د راکټو په دی حمله کی د هوټل د چت آهن پوش ئی لاندی راوغورځاوه، چاته په کی ځانی زیان ونه رسیده، خو چی ځومره ویره او خفگان وریاندی تیرشوی دی هغه د همغه وخت د وینی د فشار او د زړه د ضربان له مخی معلومیدلی شو.

د یکشنبی په ورځ هم په کابل کی هوا لمریزه وه بنایسته یخ باد په کی چلیده، اکثره مامورین د دستخطونو لپاره خپلو مرکزونو ته روان وو او دا ځکه د حاضری د دستخط کولو نظام ټینگ شوی دی چی دا وخت حکومت په دی بریالی شوی چی خپلو مامورینو ته د پخوا په شان پخپل وخت معاشونه ورکړی. د همدی ورځی په دری بجو غږ شو چی د جنوب غرب حوزی امیر او د هرات والی د پنځلسو والیانو سره کابل ته د روغی جوړی او یوی نماینده شوری د جوړولو دپاره راغلی او نیغ په نیغه انټر کانتی نینتل هوټل ته لاړل. کابل ښاریان خوشحاله شول او په خیرخانه کی ئی ورته په احساساتو سره هرکلی ووایه، خو چی د راډیوگانو خبری ئی واوریدی او اختلافی ټکو ته پکی متوجه شول یو تربله دا گونگوسی بیا شروع شو چی دا وړئ نه شړی کیږی او بنیادی خبره د قدرت په نیولو او د قدرت په ساتلو کی ده.

ددوشنبی په ورځ په تایمنی او مکروریانو کی چی کابل ریډیو د (۷۵) راکټونو په لگیدو سره د شپږ کسانو د شهادت او د دیرشو کسانو د ټپی کیدو خبر ورکړ، د جمهوری ریاست ویاند (عزیز مراد) اعلان وکړ چی د پنځه ویشتو ولایاتو والیان کابل ته راغلی دی او د یوی باصلاحیته شوری د جوړیدو لپاره زمینه برابره شوی ده.

خو داسی څرگنده شوه چی افغان لانجی زیات اړخونه او ابعاد پیدا کړی دی او گرانه ده چی د اپوزیسیون د قناعت نه پرته د لانجی حل راووزی، اسماعیل خان د جرگو مرکو نه وروستو هرات ته لاړ او د شوری د جوړیدو بندوبست کماکان روان وو.

د سه شنبی په ورځ ددعوت مجلی خبریال په هغه میلمستیا کی شریک شو چی داستاد سیاف له خوا د جنرال اسماعیل خان او نورو څوارلسو والیانو په ویاړ په پغمان کی شوی وه. د کچه غرمی په یولسو بجو د میلمنو د موټرو کاروان نیغ په نیغه د افشارو په هغه سرك لاړ چیری چی د حزب وحدت د ولی پوستی هم پرتی وی. په دی غرمنی میلمستیا کی ددولسو والیانو په گدون جنرال اسماعیل خان، احمدشاه مسعود، انجینر احمدشاه «احمدزی»، سید نورالله عماد، انجنیر ایوب، قاری بابا، نقیب الله اخونزاده او نور خصوصی میلمانه ناست وو.

په دی میلمستیا کی جنرال اسماعیل خان د سمسور پغمان په خرابی او د جنگ په مصیبت باندی لنډی خبری وکړی، وروسته استاد سیاف په لنډو خبرو کی ووی چی په جهانی سطحه داسی طوطیی روانی دی چی مجاهدین له یوی مخی بی وسلی کړی شی او ددی کار دپاره خپله مجاهدین لگیا دی خپلی پښی وهی او تردی پوری چی د قتل وقتال او خرابی په درجه کی په سادیزم مرض اخته شوی دی چی یو څو مثالونه ئی هم پیش کړل، وروسته ملا نقیب الله اخونزاده وویل: که چیری همدا اوس ماته څوك اجازه راکړی زه به خپله رتبه خوشی کړم او تجارت به شروع کړم خو څه وکړم استاد ربانی ته می د همکاری قول ورکړی دی او هغه راته ویلی که چیری په شریعت برابر روان وم ملاتړ به می کوی. اوس چی گورم استاد په شریعت برابر روان دی او زه هم ورسره په قول کی گیریم، په دی

خصوصي مجلس کی احمدشاه مسعود هیڅ خبری ونه کړی لږه شیبه وروسته د اتحاد اسلامی یو قوماندان کوټی ته راننووت استاد سیاف ورنه د غرمی د ډوډی پوښتنه وکړه. هغه وویل چی اول به د ماسپښین مونځ وکړو او بیا به ډوډی وخورو، خو استاد سیاف د ټوکی په طور سره وویل چی ډوډۍ خو ټول خوری او لمونځ به څوك کوی او څوك به ئی نه کوی په دی خبره ټولو وخندل او د جماعت خواته روان شول.

د لمانځه نه وروسته می له احمدشاه مسعود سره په داسی حال کی چی بادی ګارډان ئی دواړو خواؤ ته روان وو، د مرکی دپاره خواست وکړو خو هغه د ځان د خلاصولو دپاره په نورو رهبرانو حواله راکړه او په دی وسیله مرکی ته حاضر نه شو.

د چهارشنبی په ورځ په کابل کی داسی آوازه خپره شوه چی که چیری د استاد ربانی د وخت د پوره کیدو سره جوخت قدرت مسالمت آمیزه توګه یو بدیل ته انتقال نه کړی اپوزیسیون به هم ورسره د موازی حکومت او کابینی اعلان وکړی او جنګونه به نور هم زیات شی.

کله چی ما په دی باره کی له یو اهل نظر سره دا مسئله طرحه کړه هغه هم په نا امیدی سره دا اواز رد نه کړو او په صفا ټکو کی ئی وویل چی د جمعیت اسلامی او حزب اسلامی اختلافات دومره زور شوی دی چی ددی دواړو تنظیمونو جمعه کول ئی ناشونی کړی دی او تر څو پوری چی دلانجی دغه هیروګان په یو میز او یو مصلحت یو جوړجاری ته ونه رسیږی روانی جرګی مرکی ټولی بابیزه دی.

د پنجشنبی په ورځ د کابل راډیو اعلان وکړو چی د پیداکوژی انستیتوت پوری د مربوطو تعلیمی مؤسسو درسونه شروع شول او دابه د نورو سوونځیو د شروع کیدو دپاره یوه مقدمه وی، په دی باره کی د تعلیم او تربیی د وزارت لمړی معین او د وزارت سرپرست شاه اقا مجددی راته وویل چی همدا اوس د کابل په جنوب کی ښوونځی چالان دی او په شمال کی هڅه روانه ده چی اشغال شوی ښوونځی د جنګ د مهاجرو نه تخلیه کړو.

شاه اقا مجددی په اطمینان سره ددی پروژی په عملی کولو ټینګار کاوه خو عامو خلکو دا څکه نه شوه منلی چی په جنګ کی اسونه نه څربیږی په ډزو او جنګ کی سبق نه ویل کیږی او عوامو د سرپرست په دی اعلان باندی هیڅ باور نه کاوه. یو محصل په دی باره کی خبریال ته وویل چی په تیرو دوه کلونو کی اته ځلی اعلانونه وشول چی مکتبونه او پوهنتونونه شروع کیږی، خو کله چی د توپونو او راکټونو ګولی په کابل باندی راسر شی په ټولو منصوبو او پلانونو باندی بیا د بطلان کرښه راښکودل شی.

د جمعی په ورځ چی په کابل کی نسبتاً آرامی وه، ما هم خپل لنډوکی سفر پای ته ورساوه، د جلال آباد په اډه کی موټر ته وختم او نیغ په نیغه تورخم ته راغلم.

د کابل نه تر تورخمه پوری چی د ګاډو والاؤ سره د پاټکونو لخوا ددی خوانه کوم چلند شوی وو له هغی خوانه هماغه فعل او انفعالات وو او د پخوانی پروتوکول له مخی د یوبل په ژبه پوهیدل.

خو یو شی چی په تورخم کی محسوس وو هغه دا وو چی د ننګرهار د والی حاجی عبدالقدیر په وسیله د مزی د کارکنانو په بدلولو سره ماحول ښه وو او د پخوا په شان په لښتو او متروکو وهل نه وو بلکه د مراجعینو سره د سړیتوب خبری ډیری وی او اکثره خلکو راته وویل چی موجوده انتظامیه ښه کار کوی.

* * *

د کونړ ولایت نوی منتخب والي قاضي غلام صادق «اخونزاده»:

اوس هغه وخت راغلی چه مونږ د خپل زیرک دښمن په مقابل کی یو لاس شو او د هغه د نابودی لپاره مظبوط گامونه واخلو.

په اسعد اباد کی د دعوت مجلی خبریال

د کونړونو د ولایت منتخب والي قاضي غلام صادق «اخونزاده» سعودي عربستان ته له سفر وروسته د روان کال ۱٤/۷/۹٤ نیټه د کونړ ولایت ته راستون شو، د ناوه پاس په مقام ښاغلي «اخونزاده» او د هغه د سفر ملگرو ته د اسلامي دولت د کونړ ولایت پوری مربوط مصلح قواؤ له اړخه ورته تشریفاتي گارډ وړاندی شو او د هغه ولایت د مشرانو ، قوماندانانو، له طرفه ئی تود هرکلی وشو.

محترم والي صاحب د موټرو په اوږدو قطارونو کی د هغه ولایت مرکز اسعد آباد ته راورسید.

محترم والي صاحب او د کونړ اجرائیه شوریٰ په ولایت کی د مختصر قیام نه وروسته دا فیصله وکړه چی د اسلامي دولت سره د پیوستون په غرض د هغه ولایت د ولسوالیو او علاقداریو نه تفصیلی لیدنه کتنه وکړی، ددغه پروگرام په لومړی سر کی محترم والي صاحب د څوکی ولسوالی دوره وکړه، دغه ولسوالی ته په رسیدو د سیمی د مشرانو ، قوماندانانو او مجاهدینو له اړخه ئی تود هرکلی وشو.

د څوکی ولسوالی په جامع جماعت کی د نورگل، نرنگ او د څوکی ولسوالیو د قومی مشرانو، علماؤ، قوماندانانو او گڼو مجاهدینو یوی درندی غونډی ته د هغه ولایت منتخب والي پخپل خطاب کی وویل:

محترمو مشرانو او مجاهدینو وروڼوټنن زه د کونړ ولایت د یو والي په صفت نه بلکه ستاسو د یو خادم په صفت ددی ولایت د اوسیدونکو دپاره انتخاب شوی یم، زه هغه وخت ستاسو صحیح خادم جوړیدی شم ترڅو زما سره

ددی ولایت د مسلمانو خلکو د اخلاص ملاتړ موجود وی.

همدا ولایت وو چی د لومړی ځل لپاره پکی د الحاد پرضد د جهاد پیل وشو، همدا ولایت وو چی د الله په نصرت د ټولو لومړی د کمونستانو څخه آزاد کړی شو او همدا ولایت وو چی د لومړی ځل لپاره پکی یو اسلامی امارت قایم شو، حدود الله پکی نافذ شول او انشاء الله همدا ولایت به وی چی کاملاً د امنیت او حکومتی اداری تشکیل بحالوی.

په اخر کی ددغی دری ولسوالیو قومی مشرانو والی صاحب ته د هر نوع ملاتړ او د اسلامی دولت سره د پیوستون او همکاری وعدی ورکړی او ژمنه ئی وکړه چی په دغه لار کی مونږ د سرومال قربانیو ته تیار او آماده یو.

غونډی ته د نورو په نمایندگی استاد شهیدالله، قاضی امیرالله، مولوی عبدالرحمن او مولوی فریدالله هم گټوری خبری وکړی.

د اسلامی دولت سره د پیوستون په غرض محترم والی صاحب خپل دویم سفر د هغه ولایت خاص کنړ ته وکړو. د خاص کونړ ولسوالی ته په رسیدلو د هغه ولسوالی قومی مشرانو مخورینو او مجاهدینو له اړخه ئی تود هرکلی وشو. د خاص کونړ په ولسوالی کی د هغه ولسوالی د زرگونو اوسیدونکو یوی درندی غونډی ته په خطاب کی محترم والی صاحب وویل:

زما عزتمندو کشرانو، مشرانو، مجاهدینو او علماؤ ورونو! زمونږ مشرانو ډیر اتحادونه کړی او بیا ئی پرته له شرعی عذر نه مات کړی، دی خو کله چی اتحاد د قرآن او سنت په تائید منځ ته رانشی هغه په حقیقت کی نفاق زیاتوی. اوس وخت راغلی چی مونږ د خپل زیرك دښمن په مقابل کی یو لاس شو او د هغه د نابودی لپاره مضبوط گامونه واخلو او ددین او هیواد دښمنان پری نږدو چی پخپلو شومو پلانونو کی بریالی شی.

زمونږ ددښمنانو ناکامی د اسلامی دولت په تقویت کی ده باید مونږ د افغانستان د اسلامی دولت سره همکاری او مرسته جاری وساتو.

هغه زیاته کړه! تاسو مجاهدینو د جهاد ډیری ستونزی او تکالیف برداشت کړل، اوس د جهاد څخه د اسلامی دولت د جوړیدلو پیتی لا دروند دی او دغه پیتی په شریکه اوچتول غواړی، لکه څنگه چی مو د جهاد دپاره قیام په یو غږ او اتحاد کړی وو راځی چی اوس ددی سیمی د امینت راوستلو لپاره قیام وکړو، هغه وسله چی د کمونیست رژیم پرضد مو راغستی وه اوس ئی د اسلامی دولت په دفاع او قیام کی استعمال کړو.

په اخر کی والی صاحب په خیریه مؤسساتو غږ وکړو چی

راشی زمونږ سره ددغی ولایت په بیا آبادولو کی لاس امداد وکړی.
غونډی ته د نورو نه علاوه استاد شهیدالله، استاد محمدعلی، مولوی فریدالله او نورو مشرانو هم کټوری خبری وکړی په اخر کی د سیمی قومی مشرانو او مجاهدینو د اسلامی دولت سره د هر نوع همکاری او قربانی ژمنه هم وکړه.
د اسلامی دولت سره د پیوستون په غرض د کونړ منتخب والی حاجی غلام صادق «قاضی اخونزاده» خپل دریم سفر د هغه ولایت د مانوګی او اسلام دری ولسوالیو ته وکړو. دغه ولسوالیو ته په رسیدو محترم والی صاحب او د هغه ملګرو ته ځای په ځای تود هرکلی وویلی شو محترم والی صاحب د مانوګی او اسلامی دری د ولسوالیو په هغه غونډه کی چی په زرګونو خلکو پکی ګډون کړی وو په خپله وینا کی وویل:
لکه څرنګه چی د جهاد ورانګی د کونړ ولایت د ننګلام دکلی څخه د شهید مولوی صاحب جمیل الرحمن په قیادت سرچینه نیولی وه اوس پکار ده چی د کامل امنیت وړانګی د کونړ څخه کابل او نورو ولایاتو ته منعکسی شی.
لکه څنګه چی شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) او نورو مجاهدینو تر منځ هیڅ اختلاف نه وو او همدغه د اتحاد نتیجه وه چی په نړی کی کمونیزم ته ماتی ورکړی شوه او د کمونیزم خاتمه د همدی مجاهدینو د قربانیو او سرخندنی نتیجه وه نو اوس هم د یو قوی اسلامی دولت جوړیدو ته داتحاد او سرخندنی ضرورت دی.
هغه زیاته کړه! په دی ورځو کی د نړی مطبوعاتو د افغانستان او پاکستان د ښو تعلقاتو او مناسباتو د خرابولو بندوری پیل کړیدی، خو مونږ دا وایو چی پاکستان یواځنی هیواد وو چی د مسلمانو افغانانو د مظلومیت آواز ئی په نړی کی خپور کړو او په لکونو مهاجرینو ته ئی پناه ورکړه، نو اوس تری زمونږ دا امید دی چی د اسلامی حکومت په جوړیدو کی د افغانستان د اسلامی دولت سره د نیك نظری، اخلاص او صداقت نه کار واخلی.
هغه د ټولی نړی مسلمانانو او بالخصوص د افغانستان په مسلمانو خلکو غږ وکړو چی خپل منځی اختلافات او مفاصلی ختمی کړی او د استعماری قوتونو په وړاندی یو موټی شی.
دغه پرتمینی غونډی ته د نورو نه علاوه مولوی محمدهاشم، استاد محمدعلی، استاد شهیدالله کټوری خبری وکړی په پای کی یو تن مشر د قومی مشرانو او د سیمی د اوسیدونکو په نمایندګی هم خبری وکړی او د اسلامی دولت سره د پیوستون او هرنوع همکاری ژمنه ئی وکړه.

*

دګر جنرال سید محمد موسی (ستور):

افغانانو چې د نړۍ دلوی طاقت دماتولو ریکارډ ټینګ کړ نوېکار ده چې د خپل مینځي جوړجاړي استعداد هم په ځان کې پیداکړي.

په کابل کې د مجلې خبریال

دجهادي قوماندانانو، قومي مشرانو او مسئولینو سره د مرکو په لړ کې په کابل کې ددعوت دمجلې خبریال د روان صورت حال دځر نګوالی په هکله د لوی ځارنوالی د پوځي برخي د مرستیال ډګر جنرال سید محمدموسی (ستور) سره مرکه کړې چې په لاندې متن سره وړاندې کیږي.

پوښتنه: له الحادي رژیم سره دمقابلې دپاره دمجا هدینو عمده اهداف څه وو اودغه مقصد څومره ترلاسه شوي دي ؟

ځواب : لکه څنګه چې پو هیږي افغا نستان پواسلامي هیواددی او پنځه زره کلن لرغوني تاریخ لري، دلته دپخوانه اسلامي شریعت قرآن اوسنت جاري وو، خوکله چې روسي استعمارپه هیوادکې دیو شمیر محدودو افرادو په حمایت کې دکمونستی نظام دټینګولو دپاره مستقیمه مداخله وکړه اوغوښتل ئې چې ددې اسلامي ملت هویت بدل کړي اود غرورشمله ئې را ټیټه کړ ی، ددې سمسور وطن طبیعي شتمنی لوټ کړي اوخپل شوم اهداف عملي کړي، نودغه وخت ووچې غیورافغان مجاهدین راپاځیدل او د الله اکبر اسلامي شعار په اوچتولو سره ئې پوره څوارلس کاله په تش لاس مقا-بله وکړه اوپه پای کې ئې د نړۍ سترطاقت ته ماتې ورکړه داسې،ماتې چې ټول سیاسي او کمونستي تشکیلات ئې ورته دړې وړې کړل.

اوس داحقیقت ټولې نړۍ اوعا لم اسلام تسلیم کړې او د افغانانو په تاریخ کې دیوې نوې پاڼې په حیث ثبت اوراجسترشوې دي.

دلمړي ځل دپاره افغان جهادیان ؤو چې د روس دماتولو ریکارد ئې ټینګ کړ خواوس بایدددې استعدادهم په ځان کې پیداکړي چې دخپل مینځي جوړجاړي دپاره اوسنی الم ناك او ویجاړصورتحال عادي حالت ته راوګرځوي.

مونږ دا منو چې جهاد خپل مطلوب او برې ته ورسید، تیر

کمونستی نظام ړنګ کړی شو او د اسلامی نظام جنډه په کابل کی ورپولی شوه، خو په ډیر تأسف سره باید وویل شی چی د اسلام دښمنانو که په داخل کی وو او که په خارج کی، په تیره بیا د پخوانی نظام معلوم الحاله څواکونو په مخفی فعالیت سره د مجاهدینو په لیکو کی نفوذ وکړ او په تخریبی عملیاتو او شیطانت سره ئی د مشرانو په منځ کی عدم اعتماد او اختلافات پیداکړل او په نتیجه کی خبره فزیکی او تمام عیار جنګ ته ورسیده چی اوس هم دوام لری او خبره ده منځګرتوب او جرګو نه هم لوړه شویده.

په تیرو دوه کالو کی چی کوم شدید جنګونه واقع شول زیات بی ګناه او بی دفاع خلق پکښ ووژل شول ښارونه پکی وران او عامه شتمنی پکی لوټ او تالا کړی شوه، په نړیواله سطحه ئی زمونږ افغانی او جهادی هویت ته نقصان ورساوه او د جنګ دغه مصیبت اوس هم روان دی.

څکه نو پکار دی چی د جهاد د اهدافو په رڼا کی مشران تصمیم او تجویز ونیسی او اوسنی غمجن او تراژیدی حالت په هره ممکنه وسیله چی کیدی شی ډیر زر ختم کړی او د اسلامی حکومت د استحکام دپاره ټول مجاهدین او ټول مؤمن ملت سره د وحدت او اتفاق لاسونه ورکړی او په دی تخریبی فعالیت سره د اسلام دښمنان خوشحاله نه کړی.

پوښتنه: ددی دپاره چی د تل لپاره روان بی معنی او بی مفهومه جنګونه بند کړی شی او سراسری سوله تأمین شی څه کول پکار دی؟

ځواب: باید څرګنده کړم چی جنګ د مسئلو د حل لاره نه ده او په جګړه باندی خبری نه فیصله کیږی. جنګ د تباهی او ویجاړتیا نه پرته بل حاصل نلری، د تیرو دوه کلونو جګړو او اختلافونو راوښودله چی هیڅ جګړه مار لوری نشی کولی د جنګ په وسیله فتح او بری تر لاسه کړی. سوله او وروری یو ضروری څیز دی او اوس ددی وخت رارسیدلی دی چی ټول په ګډه د تنظیمی ارتباطاتو نه بهر د یوی دایمی سولی ټینګولو لپاره په اخلاص سره کار وکړی او دا په اوله درجه کی د جهادی مشرانو ذمه واری ده.

زما په نظر د مسئلی د حل او دیوی مطلوبی انتظامیی د جوړولو دپاره لازم دی چی په جنګ کی ښکیل طرفونه د وسلی استعمال بند کړی او د خبرو او مفاهمی له لاری لانجی حل وفصل کړی.

په دوهمه مرحله کی یو دائمی او سراسری اوربند عملی کړی شی، د ملت واقعی نمایندګان راوبلل شی او د هیواد دپاره نوی زعامت وټاکی او ورسره سم د جهادی تنظیمونو د ملی او تولنیزو شخصیتونو او متخصصینو په ګډون یو اسلامی حکومت جوړ کړی شی، وروسته د ملی اسلامی اردو د جوړولو او د وسلو د راټولولو بندوبست وشی. همدارنګه د اسلامی پارلمان جوړول او د پولیسو نه ملی پوځ تشکیل هم ضرورت دی.

په دی لړ کی پکار ده چی د غیر مسئولو وسله والو کسانو څخه هم وسلی واخستلی شی او ددفاع د وزارت ډیپوګانو ته حواله کړی شی.

پوښتنه: په داسی حال کی چی افغانستان آزاد شوی او مجاهدین د سیاسی قدرت په نیولو سره په حالاتو قابض دی خو بیا هم د کابل نه مهاجرتونه جاری دی ددی علت څه دی؟

ځواب: لکه چی مخکی هم ورته اشاره وشوه په هیواد کی اسلامی انقلاب بری ته ورسید خو فطرتاً هر انقلاب ضد انقلاب هم لری، هغه چاچی نه غوښتل دلته اسلامی حکومت جوړشی، په مختلفو اشکالو سره ئی تخریبی فعالیتونه شروع کړل

چی هم د جنگ سبب شول او هم د اسلامی حکومت د جوړولو لپاره خنډونه شول او دا خنډونه لا مات شوی نه دی.

همدغه جنگونه او خپل منځی اختلافونه وو چی د کابل او ټولو هغو ښارونو نه چی هلته جنگونه دی د خلکو مهاجرتونه شروع شول او دا ډیره د تشویش او خفگان خبره ده چی هیڅ مجاهد او هیڅ افغان ته د منلو وړ نه ده.

خو بیا هم چی په هری تنکسی پسی خوشحالی او په هری تیاری پسی رڼا حتمی ده، ددی امید لرو چی یوه ورځ به دغه ټولی جگړی مردودی شی او د اختلافاتو ځای به وروری او صمیمیت ونیسی.

پوښتنه: د لوئی څارنوالی په چوکاټ کی د وسله وال پوځ د ښه تنظیم دپاره څه اجرأت شوی دی او راتلونکی تدبیر څنگه دی؟

ځواب: د لوئی څارنوالی په چوکاټ کی د وسله وال پوځ څارنوالی د خپلو پوهو او مسلکی او عسکری کدرونو په درلودلو سره زیات فعالیتونه ترسره کړی دی، د مثال په توگه د وسله وال پوځ په ارگانونو او جزو تامونو کی ئی د څارنوالانو او مسلکی غړو په واسطه د عسکری انظباط او دسپلین د تامین په خاطر عسکری تعلیمات نامی او اصولنامی توضیع او تشریح کړی دی، د اسلام د مبین دین او محمدی غرا شریعت د اساساتو او د اسلامی انقلاب ماهیت او مفهوم ئی بیان کړی دی.

په قطعاتو او جزو تامونو کی منصبدارانو، سربازانو او نورو منسوبینو ته د نافذه قوانینو او مقررو زده کول او د تخلفاتو او جزوتامونو د کشف مسایل ښودلی شی.

همدارنگی په قانونیت باندی د پوره تطبیق دپاره د څارنی او نظارت کول او په یو شمیر جزائی دوسیو باندی غور او د جرمونو د مخنیوی دپاره کار شویدی.

لنډه داچی د جنگونو د دوام سره سره د لوی څارنوالی د پوځی برخی فعالیتونه نه دی بند کړی شوی خو که چیری جنگونه ودرول شی زمونږ د فعالیت ساحه به هم ورسره پراخه او واده منه شی.

پوښتنه: د یو مجاهد په حیث د جهاد په دوران کی د جماعت الدعوت الی القرآن والسنة او د هغی د امیر شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) د کردار په باره کی مو د نظر ټکی څه دی؟

ځواب: د جهاد په دوران کی د جماعة الدعوت الی القرآن والسنة د تنظیم ونډه اخیستنه او په خاصه توگه د جهاد سپه سالار شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) کردار لکه د لمر په شان ځرگند دی، شیخ نه یوازی د کونړ ولایت رڼا وه بلکی د توحید او تبلیغ او قرآن او سنتو د تطبیق دپاره ئی مبارزه په عالم اسلام کی جهان شمول حیثیت درلود.

زه چی په اکثره جهادی جبهو کی د مرحوم سره ملگری ووم، د هغه اجتماعی چلند او انسانی برخورد دومره جاذبه لرله چی په یو ځلی ملاقات سره به ئی د صمیمیت او اسلامی اخوت رشتی پیداکولی، په لږ وخت کی ئی زیات شهرت پیداکړ او د جهاد په صفونو کی ئی ځانگړی مقام ونیوه.

باید د افغانستان په ټولنه کی دغه گوند او د شهید قیادت اهم مقام ولری، او دغه گوند د پخوا په ډول ددعوت امور په مخ بوځی، دا ددوی مسئولیت دی.

والسلام

****

****

***

*

اسلامي تمدن

لیکوال زاهدي احمدزی

دغه ډول تمدن ته الهامی تمدن هم ویلی کیږی ځکه چی ددغه ډول تمدن ګرد اصول او بنسټونه بشری نه بلکی د کائناتو د رب او خالق له پلوه ترسیم شوی دی همدغه لامل دی چی ددغه تمدن د بشریت له پیل څخه تر اوسه پوری په اصولو کی هیڅ ډول تضاد راغلی نه دی او نه به په راتلونکی کی راشی.

د اسلامی تمدن ګرد ابعاد او د هغو په هکله هدایات او لارښودنی د جاهلی تمدن د دری واړو څانګو له اصولو او هدایاتو څخه جلا ممتاز، بی سیاله او بی انډوله دی چی دادی په لنډه توګه د اسلامی تمدن او جاهلی تمدن د ډولونو تر منځ توپیرونه په علمی توګه او په مقایسوی ډول وړاندی کولی شی.

توپیر: اسلامی او الهامی تمدن د جاهلی تمدن له ګردو ډولونو سره خورا زیات توپیرونه لری خو دلته په عمده توګه څو هغه توپیرونه وړاندی کولی شی چی ددغه تمدن ممتازوالی پری ثابتیږی او له ګردو نورو تمدنونو څخه یی فضیلت ثابتوی.

جامعیت: د اسلامي تمدن د جاهلی تمدن له ټولو ډولونو څخه یو ستر امتیاز او توپیر دادی چي اسلامی تمدن نه خو د هسی تمدن په څیر صرف پر محسنو ساتو او مادیاتو مبتنی او متکی دی، او نه د اشراقی تمدن په څیر یوازی پر ریاضت او د روح پر تزکیه بناء دی، او نه هم د عقلی تمدن په څیر یوازی او یوازی د هغو امورو پر منلو حکم او باور کوی چی د عقل تر چمبی لاندی را-درومی؛ بلکی دغه تمدن پر خپلو ګردو اصولو کی جامعیت لری او هغه داسی چی په دغه تمدن کی ماده او معنا دواړه شته دا ځکه چی په انسان کی دغه دواړه موجود دی او هر یو د انسانی ژوند د ټاکلی شوی بقاء له پاره د هغه د بدن دواړه ترکیبی ونډی بدن او روح هر یو ځانګړی ځانګړی اړتیاوی لری نو ځکه یی دده له پاره ددواړو توأمیت په خپلو اصولو کی را-وستلی دی.

نو په اسلامي تمدن کی عبادات او معاملات دواړه لازمی ګرځولی شوي دی الله تعالی د اسلامي تمدن پیروانو ته حکم فرمایلی دی او د خپل غوره کړی تمدن په ابدی قانون قرآن کریم کی یی داسی خطاب ورته فرمایلی دی:

«فإذا قضيت الصلوة فانتشروا في الأرض و ابتغوا من فضل الله واذكروا الله كثيراً لعلكم تفلحون» جمعه ۱۰ آیت ٦٢ سورت

نو کله چی لمونځ اداء کړای شو په زمکه کی تیت او خپاره شی اود الله تعالی له فضل څخه لټونه اوکړی او د الله تعالی ذکر ډیر کوی څو تاسی موخي او مراد ته ورسیږی.

زیاترو تفسیر پوهانو ویلي دی: په دغه مبارك آیت کی له فضل الله څخه مراد روزي او اقتصاد او د انسان دنیوی مادی اړتیاوی پوره کول دی. چي پدی توګه په اسلامي تمدن کی دنیا او عقبی، مادیات او معنویات دواړه دواړه په نظر کی نیولی شوی

دی. او دغه پنځیز تمدن د خپل دغه جامعیت پر اساس پر نورو کړدو، مدنیتونو خپل غوره والی ثابت کړی دی.

دغه راز په اسلامي تمدن کی عقل ته نه خو د عقلی تمدن په څیر د معبود حیثیت ورکړای شوی دی او نه بیخي بی ارزښت ګڼلی شوي دی بلکي د الهی شریعت او قانون په جمبه کی عقل ته ډیر زیات مسؤلیتونه سپارل شوی دی چی یو هم د هغوی له جملی څخه د حق او باطل ترمنځ توپیر، په کائناتو کی تفکیر، د ښه او بد ترمنځ تمیز دی، د هر یو شی سلبی او ایجابی اړخونه مطالعه کول له زیانمنو څخه ژغورنه او د منافعو جلب دا ټولی د عقل دندی دی چی باید په مسؤلانه توګه یی اداء کړی.

له همدی کبله د الله تعالی په ابدی قانون کي چي د اسلامي تمدن شریعت دی الله تعالی عقل ته په عزت سره یادونه کړی ده او په ټول قرآن کریم کی په مجموعی توګه شپاړس ځلی یادونه ورڅخه کړی ده، چی دری ځلی دبقری په سورت کی په ۱۷۹-۱۹۷-۲۶۹ آیاتونو کي، دوه ځلی د آل عمران په سورت په ۷-۱۹۰ ایاتونو کی یو ځل د مائده د سورت په ۱۰۰ آیت کی یو ځل د یوسف دسورت په ۱۱۱ ایت کی یو ځل درعد په سورت ۱۹ ایت کی یو ځل د ابراهیم دسورت په ۵۲ ایت کی دوه ځلی د ص په ۲۹-۴۳ آیاتو نو کی دري ځلی الزمر سورت په ۹-۱۸-۲۱ آیاتونو کی یو ځل د غافر «مؤمن» د سورت په ٥٤ آیت کی او یو ځل هم د االطلاق د سورت په لسم مبارك ایت کی د الباب په نوم خطاب ورته کړی دی او فرمایلی یی دی: إنما یتذکر اولو الألباب» په تحقیق سره د عقل خاوندان پند اخلی، د عقل خاوندانو له پاره عبرت دی او داسی نور..

دغه راز شپږ پنځوس ځایه الله دعقل په نوم سره د قرآن کریم په دوه دیرش سورتونو کی ورڅخه یادونه کړی ده چی پدغو کړدو کی یی عقلمندانو ته د «أفلا تعقلون لقوم یعقلون، افلایعقلون، یعقلها، لعلکم تعقلون، عقلوه او نعقل په صیغو سره یادونه ور څخه کړی ده. چی دا هر څه په خپله د عقل ارزښت ټاکی ان تردی چی د اسلامی تمدن په قانون کی د انسان هر ډول مکلفیت په عقل پوری اړوند ګرځولی دی، برابره خبره ده که هغه مکلفیت تعبدی وی او که دنیوی او معاملاتی وی.

اعتدال: دویم توپیر یی دادی چی د اسلامی تمدن په هر څه کي اعتدال دی او هغه داسی چی ددغه تمدن کړنلاره او کړنچاره او دده ګرد قوانین انسان ته حکم کوی چی په خپلو کړدو چارو د افراط او تفریط منځنی لاره غوره کړی، که په عقیده کی وی، که به عبادت کی وی، که د ځمکی په عمران او نورو د نیوی امورو کی وی که د خپل ځان د حیثیت مقام او مرتبی په ټاکلو کی وی چی بیا په دغو کړدو کی ډیر مهم په خپله د انسان د حیثیت او مقام پیژندنه او تعین او دا هغه اصل دی چی نورو کړدو ته د چورلیځ حیثیت لری.

ځکه چی د جاهلي او طاغوتی تمدن د کړدو ډولونو د ناکامی باعث یواځی او یواځی په کائناتو کی د انسان مرتبه، حیثیت او د مقام نه پیژندل دی، او هغه داسی چی په ځینو کی انسان خپل ځان ته د معبود او خالق مرتبه ورکړی ده او د الوهیت دعوی یی کړی ده او ځان ته یی د «أنا ربکم الأعلی» خطاب کړیدی.چي له همدی کبله یی ځان ته د خپلواك، ټولواك قانون جوړوونکی او حقیقی فرمان روا حیثیت ورکړی دی چی، بیا په نتیجه کی یی ناکام، نامراد او د کائناتو د یو ذلیل او له ګردو څخه د کوچنی موجود لکه غوماشی په مقابل کی ماتی خوړلی ده، ټول غرور او لوی ئی له خاورو سره خاوری شوی ده او د خپل جوړ کړي تمدن چی خپل ځان یی د هغه او ددنیا په کون د ګردو کائناتو حقیقی مالك ګاڼه کاذبانه ملوکیت دړي وړی شوی دی، بی وسه خوار او ذلیل، بی ځواکه او بی واکه ګرځیدلی دی.

مګر ددی په عکس د جاهلی تمدن په ځینی نورو ډولونو کي انسان خپل ځان ته دومره ټیټ او ذلیل مقام

ورکړی دی او دتفریط هغه مقام یی چی دذلت خورا ښکته درجه او دا کروهه لری چی دی یعنی انسان په کردو موجوداتو کی ذلیل او بی وسه موجود دی له همدی امله یی ونو، ډبرو، سمندر، اور، حیواناتو، غرونو،باد، لمر، سپوږمی، بریښنا ستوریو ا وپل هر هغه موجود ته خپل سرټیټ کړی دی، سجده ورته کوی، عبادت یی کوی او په الوهیت سره یی قبول کړی دی چی په هغه د زیان رسولو او یاګټی ورکولو د ځواك موجودیت په نظر ورځي ان تردی چی که د ځان په خیر په کوم انسان کی هم کوم ځواك په نظر ورشي د تمی یا ویری له امله هغه ته هم عبادت کوی.

چی په نتیجه کی یی ناکام، نامراد او د خپل جوړ کړی تمدن هر څه له لاسه ورکړی دی او د تاریخ موزیم ته یی سپارلی دی.

په اسلامي تمدن کی دغه دواړه مشرکانه نظریات چی د انسان د مقام او مرتبې پیژندنی په اړوند قائم کړای شوی نشته بلکی دغه دواړه یی غندلی او رد کړی دی، ځکه چی د اسلام په قاموس کی د هر ډول شرك د معقولیت توری نشته. له همدی کبله اسلامي تمدن انسان ته داسی مقام او مرتبه ورکړی ده چی هغه په خپل ذات کی زیاته معقوله او معتدله مرتبه ده او د انسان اصلی حقیقت یی داسی ورته معرفی کړی او ورپیژندلی دی.

«یأیهاالناس إن کنتم في ریب من البعث فإنا خلقنکم مَن تراب ثم من نطفة ثم من علقة ثم من مضغة مخلقة و غیر مخلقة لنبین لکم* و نقر في الأرحام ما نشاء إلی اَجل مسمی ثم نخرجکم طفلاً ثم لتبلغوا أشدکم ومنکم من یتوفی و منکم من یرد إلی أرذل العمر لکیلا یعلم من بعد علم شیئا**»

ای خلکو که چیری تاسی له بعث او بیا ژوندی کولو څخه په شك کی یاست نو تاسی مونږ له خاوری څخه پیدا کړی یاست بیا له یو ځاڅکی منی څخه، بیا یی له یوی ټوټی پرندی وینی څخه بیا یی دغوښنی له یوی تام الخلقت بوټی حخه او ناقص الخلقت بوټی څو تاسی ستاسی اصلی حیثیت بیان کړو. او تر یوي ټاکلی مودی پوری څومره چی مونږ وغواړو تاسی په ذیلانځونو کی ثابت پریږدو، بیا تاسی د میندو له ګیډو څخه مونږ کوچنی او ماشوم راباسو، تر هغه پوری چی تاسی په عقلی او جسمی توګه ځواکمن شی او ځوانی ته اورسیږی او له تاسی څخه ځینی هغه څوك دی چی له ځواکمنتیا څخه وروسته وفات کړای شی او ځینی هغه دی چی د عمر ناوړه پړاوته رسولی شی ددی له پاره چی له پوهی څخه وروسته په هیڅ شی نه پوهیږی.

نو دداسی یو چا چی دوجود بشپړتیا او له منځه تلل یی بې نهه پړاوونو کی وی او بیا دغه ادوار هم دده به واك کی نه وی هغه دا حق لری چی ووای «ومن اشد منا قوةً» یا ووایی «أنا ربکم الأعلی» او داسی نور...

مګر له دی سره سره انسان د اسلامي تمدن په شریعت کي دومره ذلیل هم نه دی چی د بی وسه جامدو، مائعو او د ځان په څیر د نورو انسانانو بندګی وکړی، هغوی ته په سجده پریوځی. هغه خپل حاجت روا، مشکل کشا د نفع او زیان مالك او ګڼی؛ بلکی په خپله انسان په ناسوتی موجوداتو کی له ګردو څخه عزتمند مخلوق دی لکه چي الله تعالی فرمایلی دی: ولقد کرمنا بنی آدم و حملنهم في البر والبحر و رزقناهم من الطیبات و فضلنهم علی کثیر ممن خلقنا تفضیلا» او په تحقیق سره مونږ بنیادمان عزتمن او لوی کرځولي دي، په وچه او سمندر کي مو سواره کړي دی دوي او له پاکیزه شیانو څخه موږ دوی ته روزی ورکړی ده، او غوره کړي مو دی یعنی فضیلت مو ورکړی دی بینادمو ته پر ډیرو هغو مخلوقاتو باندي چی مونږ پیدا کړی دی په ډیر فضیلت او غوره کولو سره.

نو ده ته نه ښایی چی له ځان څخه مفضول ته پر عبودیت و معبودیت معترف او اخته شی بلکی دی باید پوه شی چی نه په خپله انسان معبود دی او نه نور مخلوقات د عبادت وړ

دی بلکی د انسان معبود او دا نورو مخلوقاتو یوازی او یوازی هغه الله دي چې د هغه ذات له گرد هغه څه څخه منزه او اوچت دی چې تصور یې کولی شی «لیس کمثله شيء» انسان ته حکم کوی چې په عقیده کی، په عبادت کی، په سیاست کی او په نور هر څه کې توحید گروهه ولری، له هر ډول عقیده وی، فعلی، قولی، سیاسی، قانونی، عمرانی، فردی، اقتصادی ا واجتماعی شرك څخه ډډه او اجتناب وکړی.

په عمران کی: په اسلامي تمدن کی د ځمکی عمران ته زښت زیات ارزښت ورکړای شوی دی مگر د اعتدال په جمبه «دائره» کی او هغه داسی چې نه خو جسی تمدن په څیر دی چې بی هدفه او چتی دنگو دنگو تعمیرونو جوړولو ته هغه هم پداسی ځایونو کی د جوړلو اجازه ورکوی چې هلته څوك هستوگنه نه کوی صرف د خپل نوم کټلو او مشغولا په خاطر یی جوړوی خپل دولت او خپل وخت او خپل عمر عبث او چتی پری لگوی او نه هم د اشراقی تمدن په څیر له عمران څخه شاړی بیدایا ته او په ځنگلونو کی د ژوند کولو اجازه ورکوی.

اسلامی تمدن خپلو پیروانو ته حکم کوی چې ځمکه ودانه او آباده کړی تعمیرات ښارونه، کلی او بازارونه پکی جوړ کړی خو داعتدال په چوکات کی او د خپل انسانی او بشری ضرورت په انډول او پدی هکله اسلامی تمدن له گردو څخه مقدم دی چی ځرگندی نمونی یی په اسلامي امت کي د عباسیانو شپږ سوه کلن دور دی، او په دغه دور کی چې اسلامی تمدن ځومره پر مختگ کړی ؤ د بشر په تاریخ کی یی مثال نه لیدل کیږی او نه یی څوك وړاندی کولی شی.

اسلامي تمدن او دده اصول عمران ته اجازه ورکوی مگر به هغه کي اصراف کولو ته هیڅکله اجازه نه ورکوی.

پنځیزتوب: دریم امیتاز او فضیلت یی دادی چې د اسلامي نظری او عملی ټول قوانین او چاري فطری دی، یو کاریې هم له بشری پنځ څخه خلاف نه دی همدغه سبب دی چې په دغه تمدن کي سلبیت وجود نلری هر قدم یی د بشریت له مقتضیاتو او غوښتنو سره سم دی او د بشریت مادی او معنوی کتی پکی انځور کړای شوی دی اؤ دزیانمني گردی لاری یی له پیل څخه پری تړلی شوی دی.

عمومیت:

ځلورم امیتاز او فضیلت یی دادی چی اسلامي تمدن د کومي خاصی زمانی مخصوص امت یا پاټکی، مخصوص چاپریال او د بشری امت د خاص توکوم له پاره نه دی بلکی دغه نیکمرغه تمدن عام دی، دهری زماني، هر چاپیریال او گردو بشری امتونو له پاره کټور دی او په هره زمانه کی د تطبیق جوګه دی. ددغه تمدن اصول زرښت نه لری، ترمیم او تنسیخ ته یی اړتیا نه پیدا کیږی د بشریت له پیل څخه د گردو له پاره دی او په راتلونکی کی به هم وی. پداسی حال کي چی د بشری تمدنونو یو تمدن هم دغه صفت نه لری، همدغه لامل دی چی هغوی هر یو ډیر ژر پناه شوی او له منځه تللی دی.

ربانیت:

د اسلامي تمدن پنځم او محوری امتیاز او توپیر دادی چی قوانین یی د الله تعالی له پلوه رالیږل شویدی او بیا یی ددغو قوانینو د ښوونې او تعلیم له پاره د بشریت له پیل څخه تر اوسه پوری له بنیادمو څخه خپل داسی بندگان انتخاب کړی دی چی د نورو په پرتله ډیر غوره دی، او دغو نخبه بندگانو ته الله تعالی د انبیاؤ او رسولانو خطاب ورکړی دی، او د هغوی اطاعت یی پر گرد بشریت فرض او لازم گرځولی دی، د هغوي اتباع یی د نیکمرغی سبب گرځولی دی. چی بیا د خپلو دغو ونخبه بندگانو او ممتازو معلمانو لړی یی پر خاتم النبیین محمد صلی الله علیه وسلم پای ته رسولی ده.

نور بیا

سلفی تحریك ته یوه کتنه



روښانه لار........ ښائسته حال ..... نیغه لاره

د مولوی عبد الحلیم «شفیق» لیکنه

دمشکوة د صحابه کرامو د مناقبو د باب په لومړنی فصل کی د نبی کریم ﷺ مبارك حدیث دی او فرمائی «خیر امتی قرنی ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم» زما د امت هغه بهترینه زمانه زما (دصحابه کرامو) زمانه ده بیا هغه چی هغو ته (صحابه ؤ) ته ورنږدی وی (د تابعینو دور)بیا هغه چی هغو ته (تابعینو ته) ورنژدی وي (دتبع تابعینو دور) همدا رنگه په څو نورو روایاتو کی د همدغو دریو زمانو فضیلت او اهمیت بیان شویدی، دغو دریو زمانو ته خیرالقرون یا ثلاثة قرون مشهود لها بالخیر هم ویل کیږی او همدارنگه د سلف الصالحینو (د صحابوو، تابعینو، او تبع تابعینو)مقدس دور هم ورته ویل کیږی. په دغه دور کی صرف د حق او د خیر غلبه لیدل کیږی، امت ټول په مجموعی طور سره له هر قسم افتراق، انتشار، فتنی او فساد څخه محفوظ پاتی شویدی، که څه هم کله ناکله په ځینو ځایونو کی خال خال اختلافاتو او شور سر راوچت کړی دی لیکن له نیکه مرغه د حق د غلبی په وجه هغه دفع شویدی، د ټولو خلکو دین او مذهب صرف او صرف یو ؤ (کتاب او سنت). نه څوك حنفی یا شافعی ؤ او نه څوك په قادری یا چشتی سلسلو کی ؤ او نه د جمهوریت او سیکولرزم وجود چیرته په نظر راته، ټول مسلمانان یو جماعت وه (د الله جلاجلاله او رسول ﷺ جماعت) چی له هر ډول تفرق څخه آزاد او د اسلامی خلافت تر بیرغ لاندی ددعوت او جهاد پر لاره روان او د قرآن او سنت پر مسلك قائم وو. بیا له خیرالقرون څخه وروسته هغه وخت راغی چی په کی په قرآن او سنت باندی تمسك په تدریجی ډول ضعیف شو، د عقل او خواهشاتو د پرستش فتنی د تشیع او خوارجو په شکل راپیدا شوی، په هغو عقایدو چی سلف الصالحین راټول وو، په هغوی کی تبدیلیانی رامنځته کړای شوی، د معتزله او جهمیه په څیر ناپاکی ډلی میدان ته راووتلی او داسی نوری مختلفی فرقی راپیداشوی. صحابه او تابعین چی د هغه وخت سلف الصالحین وو، پر دین د قایم پاتی کیدلو په خاطر ئی خپلو کوششونو ته

د لاپسی پیاوړی کولو تصمیم ونیو او عملاً ئی په کار پیل وکړ، هغه خلك چی د شیعه ؤ، خوارجو، معتزله ؤ، جهمیه ؤ، جبریه ؤ او قدریه ؤ په خلاف له نبوی سلفی منهج سره د خپل مضبوط تعلق ساتلو او له هر قسم نوو ولیزؤ کړو وړو څخه د بیزاری په اساس ئی قیام کړی ؤ، د اهل سنت او اهل حدیث په نامه بلل کیدل دا یعنی هغه خلك وو چی دین ئی د نبی ﷺ او د نبی ﷺ د جماعت په طریقه قایمول د اصلی هدف په توگه پیژانده.

گویا دا یو داسی تحریك ؤ چی له مذهبی فرقه بندی، سیاسی تفرق او فکری ماتی څخه د امت د ژغورلو په خاطر میدان ته راووت او همدا وجه وه چی کله سلف الصالحینو پر کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ باندی مضبوطی منگولی ښخی کړی او له تفرق نه د نجات په خاطر ئی سلفی تگ لاره غوره کړه نو له څوڅو واری خورا ډیرو لویو مشکلاتو سره مخامخ او په مختلفو ازمیښتونو کی واقع شول.

پر امام احمد بن حنبل رحمه الله د درو گذارونه وکړی شول. همدا رنگه له امام مالك رحمه الله سره تشدد وکړی شو، ابن تیمیه رحمه الله زندانی کړی شو، لیکن دغه سلفی تحریك د ټولو مشکلاتو او ستونزو باوجود، پر کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ باندی د خلکو د استقامت د بقاء په خاطر، د هر قسم حالاتو په پوره میړانه مقابله وکړه او خپل تحریك ئی جاری وساته او له بلی خوا د مجاهدینو لښکری د محمدبن قاسم رحمه الله، طارق بن زیاد، او محمود غزنوی په شان بت شکنو قوماندانانو تر قیادت لاندی په وړاندی روانی وی خو کله چی بیا د تحریك په سلسله کی د مختلفو عوارضو په بناء خرابی رامینځ ته شوه نو محمد بن عبدالوهاب په پوره میړانه قیام وکړ او د سلفی تحریك د عام کولو په خاطر ئی د توحید او سنت په رڼا کي ددعوت او جهاد لازم او مناسب پروگرامونه مطرح کړل او بیا ملك عبدالعزیز آل سعود رحمه الله پر مکی مکرمی او مدینی منوری باندی له قبضی څخه وروسته کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ عملاً نافذ کړل او په بیت الله شریف کی چی حنفی ، شافعی، مالکی او حنبلی علماؤ په جداجدا توگه بلمونځونو د آداء کولو دپاره مستقلی مصلی تیاری کړی وی هغه ټول ئی له مینځه یوړل، او په مقام ابراهیم کی یوازی یوه محمدی مصله قائم کړی شوه، په ملك کی حدود الله جاری کړی شول، د امن او سلامتی دور تازه کړای شو.

دا هغه سلفی تحریك دی چی نن هم ددنیا په هره برخه کی پر کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ باندی د مسلمان امت د متحد کولو دپاره ددعوت له لیاری خپل نهائی کوششونه خاص د الله تعالی د رضاء د حصول په خاطر جاری ساتی او دغیر مسلمو په خلاف د جهاد پر میدان خپل جنگ ته دوام ورکوی، په رشتیا چی نبی رحمت ﷺ فرمائلی وه «لاتزال طائفة من أمتی یقاتلون علی الحق ظاهرین إلی یوم القیامة»

زما په امت کی به یوه ډله داسی وی چی د حق په حمایت کی به همیشه جنگیږی او دا ډله به تر قیامته قائمه وی (بخاری)

گویا چی سلفی تحریك د کومی ډلی دعوت نه دی بلکه د کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ په مطابق د خلکو په صحیح توگه مسلمانی ته د رابللو تحریك دی. ددی تحریك سیاست خلافت او امارت دی، دعوت او جهاد ددهٔ لاره

ده، د کور نه واخله تر سیاست او معیشت پوری، په هرځای کی د پیغمبر ﷺ د یویو سنت د پیروی کولو مطالبه کوی، شهادتونه او قربانیانی او ددغی شاهی لیاری روښانه ساتل ئی په ماضی او حال کی تقاضا ده.

په برصغیر او بیا په افغانستان کی سلفی تحریك:

حقیقت دادی چی سلفی تحریك د همیشه دپاره د جهاد پر پاکو ولولو قائم دی. له ابن تیمیه رحمه الله (۷۲۸هـ) او همدارنګه د محمد ابن عبدالوهاب او شاه اسمعیل شهید څخه تر او سه پوری د اهلحدیثو تاریخ د جهادی هلو ځلو او جذباتو څخه ډك دی. د مثال په طور:

شاه اسمعیل شهید رحمه الله په برصغیر کی ددعوت او جهاد پر بنیاد لومړی یو داسی تحریك شروع کړ چی په اصولی طور په سلفی منهج قائم ؤ.

د شاه اسمعیل شهید قایم مقام مولانا ولایت علی رحمه الله او مولانا عنایت علی رحمه الله د نورو مجاهدو سلفی علماؤ په څیر له خونخوارو او ظالمو سکانو سره جنګونه وکړل او څو څو کرته ئی له سرحدی ناوړو شکستونو سره مخامخ کړل.

په برصغیر کی د اسلام ګر پر مقام لومړی مستقل اسلامی حکومت په (۱۲۶۹هـ) کال د مولانا ولایت علی رحمه الله او مولانا عنایت علی رحمه الله په لاس قائم شو چی ددغه حکومت سرحدی حدود تر ګړی حبیب الله، شنکیاری او بیرکندا او د کشمیر تر مظفرآباد پوری غزیدلی ؤو.

د (۱۸٤٦میلادی) د مارچ په ۱٦ کله چی انګریزانو د یوی شرمناکی معاهدی په لړکی کشمیر د ګلاب سنګ ډوګر نامی په لاس د ۷۵ لکو روپو په بدل کی په بیه واخیست نو همدغه سلفی حکومت په همدغه کال کی د سکانو او انګریزانو سره د کشمیر د مسئلی په سرجنګ پیل کړ چی یو تاریخی جنګ بلل کیږی، خو له بده مرغه په خپلو جوانبو کی د غداری په اساس د اسلام ګر سلفی تحریك هم له تباهی سره مخامخ شو.

همدارنګه په کال (۱۸۵۷ میلادی) کی کله چی د آزادی جنګ په برصغیر کی شروع شو، ددغه جنګ پروګرام او طرحه مولانا عنایت علی رحمه الله تیاره کړی وه چی په دی اساس د انګریزانو اصلی افواجو د خپلو بادارانو په مقابل کی په بغاوت لاس پوری کړ، خو له بده مرغه په دغه نازکه مرحله کی هم د تیری پیښی په شان د خپلو بی عمله پیرانو، صوفیانو، او درباری ضمیرفروشو او خواهش پرستو ملایانو له غداری نه په ډکو فتوؤ، په زرګونو او لکونو مجاهدین د وهابیت او غداری په تورونو لګولو سره په شهادت ورسیدل او څه پاتی مجاهدین د رنګون په جزیره کی د همیش لپاره جلا وطن شول.

همدارنګه کله چی د ختم نبوت تحریك قائم کړی شو، د اهلحدیثو علماؤ کردار د اعلی نوعیت حیثیت درلود، د دجال مرزا غلام قادیانی له ټولو نه مخکی اختار ورکونکی او په برطانوی عدالتو کی دده کش کوؤنکی عالم دین هم اهلحدیث مولانا محمد حسن بتالوی ؤ. له غیر مسلم سکانو، عیسائیانو، هندوانو، مجوسیانو او قادیانیانو سره د مناظری دپاره همیشه به د ټولو مسلمانانو د انتخاب نظر پر سلفی علماؤ لکه مولانا ثناء الله امرتسری رحمه الله او مولانا حافظ عبدالله روپړی رحمه الله وؤ او هغوی به مسلمانان په هر میدان کی سرلوړی ساتل، د مرزا غلام قادیانی آخری تاریخی فیصله هم د مولانا ثناء الله امرتسری رحمه الله سره وکړی شوه چی په هغی کی دا بی ایمانه ملحد له سخت شکست سره مخامخ شو.

همدارنګه سلفی علماؤ په هغه

تحریك كې چې قادیانیان د كافرانو په حیث په سركاري او غیر سركاري سطحو ټولو خلكو ته معرفي كیدل، ښكاره او ځلانده فعالیت تر سره كړیدی، د یادولو وړ دی چې د تحریك د نوم (مجلس ختم نبوت) انتخاب كوونكی شخص هم له اهلحدیثو علماؤ څخه (مولانا حافظ محمد ابراهیم سیالكوټي صاحب) ؤ.

افغانستان: همدارنګه د آسیا په زړه افغانستان كې چې له اوږدې مودې راهیسې د صحیحو او اصلي دیني مفاهیمو اهمیت تقریباً له مینځه تللی او د خلكو ذهنونه او فكرونه د مستبدو او ظالمو حكومتونو د اثراتو په وجه متحرف شوي وو او د یوې سیاسي سالمې اداري نشتوالي او د هم عصرو علماؤ د مطلوب دعوت نه كول ددې سبب شو چې په افغاني اجتماع كې د مختلفو ناوړو رواجونو زیاتوالی او په دین كې د مختلفو بدعاتو رائج كیدل یو عادي مشغله وګرځي، ددغو ټولو حالاتو د كنټرول دپاره كه څه هم په ځانګړې توګه له بعضو محدودو با احساسو علمي اشخاصو سره فكر مندي وه او په مختلفو طریقو به ئې خپل اسلامي دعوت ته دوام وركاوه چې له دې جملې څخه شهید شیخ جمیل الرحمن، شهید مولوي عبدالمتین، مرحوم مولوي عبدالخالق، مرحوم مولوي رحمت جمال، مرحوم مولوي عبدالظاهر، مرحوم مولوي محمد ابراهیم نورستاني رحمهم الله او نور نومونه د یادونې وړ دي. د پورته ذكر شوي صورت حال په ارتباط له مظلوم شهید مولوي جمیل الرحمن سره په خصوصي توګه احساس او فكر مندي وه او همیشه به په دې تلاش كې ؤ چې څه رنګه وكولای شي تر څو ددین د صحیح تحقق په لاره د سلفو صالحینو د نقشې مطابق مثمر او مثبت قدم اوچت كړي، كه څه هم چې دديني نشاطاتو په وجه د وخت د ظالمانو او بې دینو حاكمانو توجه په خاصه توګه دده مركزونو ته ګرځیدلې وه او د مختلفو شدیدو اختارونو په واسطه تهدیده حتی دڅه مودې دپاره به محبوس ساتل كیده لیكن مظلوم شهید به ددغو ټولو ستونزو سره سره د خپل پاك هدف په لور سنجیده او مجاهدانه قدمونه اوچتول او د الله تعالى څخه پرته د بل هیڅ چا ویرې پر دغه مجاهد باندې اثر نه كاوه، هم دغه وجه وه چې ده ددغو ټولو دسایسو او د دشمنانو د خواكونو د ټكولو لپاره د ملك نامور مؤحد او متعهد علمأ په یو تنظیمي شكل راغونډ او منسجم كړل او د تنظیم نوم ئې په «امت مسلمه» مسمی كړ.

مظلوم شهید د خپلو دیني جذباتو په لړلو غوښتل چې د خپل ملك صورت حال د ملك د ټولو خاصو او عوامو خلكو پر مخ منكشف كړي، په دې وجه د تنظیم د تأسیس څخه وروسته مظلوم شهید دا پروګرام درلود چې د ملك مختلفو سیمو ته سفر وكړي او ددین اصلي پیغام د افغانستان ټولو مسلمانو وګړو ته ورسوي. د پروګرام مطابق مظلوم شهید د خپل توان په اندازه د مختلفو منطقو دوره كوله او خپل دیني فعالیت ئې په خورا میړانه او منظم ډول سرته رساوه. د حالاتو بدلون د مظلوم شهید پر دیني دعوت كوم اثر نه كاوه، په پوره متانت او استقامت ئې د ټولو ستونزو سیاسي او غیر سیاسي او بې دینو اړخونو په مقابل كې قیام كاوه چې د مظلوم شهید له ټولو څخه ړومبی مسلحانه قیام د كمونستانو په مقابل كې دده د متانت او بهادرۍ ښكاره او ځلانده ثبوت دی.

خلاصه دا چې مظلوم شهید د خپل دیني فعالیت له ړومبي مرحلې څخه د شهادت تر وروستي مرحلې پورې ددین د تحقق په لاره كې د سلفو صالحینو په نقش په انفرادي او اجتماعي سطحو او میدانونو كې له

خپل سپيڅلی او سياسی سنگر څخه سنجيده او مثبت مضبوط قدمونه اوچت کړی، الله تعالی دی ورله ډير ډير اجرونه ورکړی!

دده له کارنامو څخه که څه هم سره ددی چي د اهلحديثو او د صالحينو سلفو د منهج پيروانو د تاريخ په اوږدو کی په خپل خپل وار زرين بابونه پرانستی، خو هغه څه چي په اوسني پيړي کی ددغه منهج پيرو تنظيم (جماعة الدعوت الی القرآن والسنة) د شهيد شيخ (رحمه الله) په مشری په افغانستان کي سرته ورسول د خاص اهميت وړ دي.

د کونړ د ولايت له آزاديدو نه وروسته د شهيد شيخ (رحمه الله) په ابتکار، په دغه ولايت کی د شرع الله انفاذ لپاره د اسلامی امارت په نوم يوه واحده اداره د ټولو جهادی تنظيمونو لخوا جوړه شوه چي د ټولو تنظيمونو قوماندانانو، عالمانو او سپين ږيرو له مرحوم مولوی صاحب سره بيعت وکړ.

د اسلامي امارت له قيام نه وروسته په کونړ کی د ټولو قومونو، گونډونو، قوماندانانو، علماؤ او عوامو ترمنځ د اسلامي وروري مزی ټينگ شول، امنيت په تمامه معني تأمين شو، اسلامی حدود تطبيق شول، په مخدره موادو او نورو منکراتو بنديز ولگيد، د کوکنارو شنه فصلونه واړول شول او کروندگرو ته ئی نقدی معاوضه ورکړی شوه، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر او نورو شرعی امورو اهتمام په پوره ميړانه او برياليتوب مخ په وړاندی روان ؤو خو داچی اهل حق د تل لپاره د باطلو ځواکونو «اماجگاه»وی، په کنړ کي هم د اسلام داخلی او خارجی دښمنانو لاسونه سره ورکړل او ددغی اسلامی پروسی پرضد ئی خپل شوم عزايم پيل او تر سره کړل، خو بالاخره دغه اسلامی اداره هم د مرحوم شيخ په شهادت پای ته ورسيده سره لدی چي د اسلام ددښمنانو په سازشونو د افغانستان د جهاد بنسټ ايښودونکی په مظلومانه شکل شهيد او په کونړ کي اسلامي امارت له مينځه لاړ، خو د اسلام ددښمنانو ناولی هلی ځلی لا جاری دی او ستړی ستومانه د اسلام او قرآن او سنت پرضد ددسيسو په جوړولو لگيا دي او پدي نه پوهيږی چي الله تعالی فرمائی: «يريدون ليطفئوا نورالله بافواههم والله متم نوره ولو کره الکافرون. (الصف – ٨)

ترجمه: يعنی دوي (کفار) اراده لري چي د الله تعالی نور (قرآن او سنت) په خپلو پوکو له مينځه يوسی خو الله خپل نور لدی سره چی کافران پری ناخوښه دی پوره کوی.

د اهلحديثو او صالحينو سلفو کاروان او د «جماعة الدعوة الی القرآن والسنة) تنظيم د خپل هدف په لور چي هغه د قرآن او سنت تعليم عام کول دي، په بيره قدمونه اچتوي او اجر ئي له الله تعالی نه غواري.

گمان مبر که به پایان رسید کار مغان

هزار باده ای ناخورده در رگ تاک است

د جهاد د کامیابۍ نه وروسته ضرورت

محمد زمان

خزان دی باغ وهلی اوس بهار ته ضرورت دی
گلونه به غوړیږی خو مالیار ته ضرورت دی

خزان پسی بهار وی سری غوټی سپړی گلونه
دوستان په خوشحالی بیا دچمن کوی سیلونه

گلشن کی دگلونو خدمتگار ته ضرورت دی
گلونه به غوړیږی خو مالیار ته ضرورت دی

وطن ښکلی لیلی ده په سرو سترگو باندی ژاړی
د خپلو عاشقانو نه نظر د مجنون غواړی

مجنون په شان د مینی وفادار ته ضرورت دی
گلونه به غوړیږی خو مالیار ته ضرورت دی

ثبوت غواړی دعویٰ اوس نیك او بد به معلومیږی
کوتهه پیسی دُکان کی د صراف کله چلیږی

میدان کی دعمل صحیح معیار ته ضرورت دی
گلونه به غوړیږی خو مالیار ته ضرورت دی

عمل دمسلمان چه وی د قول نه خلاف
لوی دروغ دی پاك الله دا په قرآن کی وایی صاف

د قول مطابق صحی کردار ته ضرورت دی
گلونه به غوړیږی خو مالیار ته ضرورت دی

قربان مجاهدینو ځوارلس کاله سر او مال که
د شرق د استعمار نه یی تر لاسه استقلال که
همدارنګی د غرب نه خپل اختیار ته ضرورت دی
ګلونه به غوړیږی خو مالیار ته ضرورت دی
په تیرو ځوارلس کالو کی خزان وه په ګلونو
وران شوئ ټول وطن دی په طیارو او په توپونو
دی وران وطن د پاره اوس معمار ته ضرورت دی
ګلونه به غوړیږی خو مالیار ته ضرورت دی
کوم کار چه ضروری دی څوك یی نه ګنی ضرور
څوك ګرځی په پیسو او په دولت پسی ترهور
د چا فقط چوکی او اقتدار ته ضرورت دی
ګلونه به غوړیږی خو مالیار ته ضرورت دی
قیام د جهاد شوی دی په حق محمد زمانه
په حق وینا کی یره او شرم مکوه د چانه

کتمان د حق ګناه ده حق ګفتار ته ضرورت دی
ګلونه به غوړیږی خو مالیار ته ضرورت دی

****
*****
**
*

عبدالرحمن
«الفت»
دولت زئ

پایمال شول

پایمال شول په دوه کالو کی یادونه مو پایمال شول
عـزت او ابـرو لاړه حـیـثـیـتـونـه مو پـایـمـال شول

د چـا پــه لمســه لاړو او د چـا ډول تــه گــډیـږو
دا څه وشـول یـارانـو چه فـکرونـه مـو پایمال شول

وطن شو لوټي لوټي او مونږ نور پري خوشحالیږو
قدیم اثـآر شـول ورك او مـوزیمـونـه مـو پـایمـال شول

روانـه گـډوډي ده د اصــلاح فــکـر څـوك نـکړي
ژوندون مو شو خراب او ټول مالونه مو پایمال شول

جهاد مو کړو شروع او هم مو روس کړ دړی وړی
پـنځلس کالـه وروسـتـه امـیدونـه مـو پـایمـال شـول

کورونه مو شو رنگ باغ او باغچي مو شوي خرابی
هر څه شول دړي وړي او ځنگلونه مو پایمال شول

چا چا ته غاړه ورکړه او څوك چا څنگ کي نیولی
«الفتـه» آخر وخت دئ هدفونه مو پایمـال شـول

ایا صربیان هم یهودیان دي؟

هسی خو په ژبه هر مسلمان وایی چی یهودیان او نصاری زمونږ دښمنان دي ولی ددی سره سره بیا هم د هغوی پیروی او تقلید کوی، سلوك او کردار یی ښه گڼی او کوشش کوی چی د هغوی تگ لاره خپله تگ لاره وگرځوی، خو ددی خبری په حقیقت او دروندوالی ډیر کم خلك پوهیږی. هغه ځوك ددی خبری حقیقت ته رسیدلی شی چی د قرآن کریم دغه لاندی آیتونه یی لوستلی وی چی فرمائی: «یا ایها الذین أمنوا لا تتخذوا الیهود والنصاری اولیاء بعضهم اولیاء بعض».

ترجمه: (ای مومنانو! یهود او انصاری په دوستی مه نیسی، دوی یو تربله سره دوستان او هم لاسی دی).

«یا أیهاالذین امنوا لاتتخذوا عدوي و عدوكم اولیاء تلقون الیهم بالمودة و قد كفروا بما جائكم من الحق یخرجون الرسول و إیاكم ان تؤمنوا بالله ربكم ان كنتم خرجتم جهداً فی سبیلی و ابتغاء مرضاتي تسرون الیهم بالمودة و أنا أعلم بما اخفیتم وما اعلنتم ومن یفعله منكم فقد ضل سواء السبیل ان یثقفوكم یكونوا لكم اعداءً و یبسطوا الیكم ایدیهم والسنتهم بالسوء وودو لوتكفرون»

ترجمه: ای مؤمنانو زما او خپل دښمن مو په دوستی مه نیسی مه تری د مرستی طمعه کوی او مه ورته ددوستی لاسونه ور اوږدوی آیا تاسی ددی کفارو سره په داسی حال کی دوستی کوی چی دوی ستاسی له دین څخه منکردی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم او تاسی ئی په دی گناه له کورونو نه اوباسی چی په خپل رب ایمان لری، نو که زما په لار کی د جهاد لپاره وتلی یاست او زما رضا مو هدف وی، د کفارو سره دوستی مه کوی، آیا تاسی ددوی سره په داسی حال کی دوستی کوی چی زه مو په پټ او ښکاره راز پوهه یم نو که ستاسی له جملی نه څوك ددوی سره دوستی وکړی نو یقیناً ښکاره گمراه شو که یی لاس وربانـدی بر شی دشمنان مو دی د ضرر لپاره خپل لاسونه او ژبی در اوږدوی او د ا خوښ گڼی چی تاسی کفار شی.

«لا یرقبون فی مؤمن الاً ولا ذی یرضونكم بافواههم و تأبی قلوبهم»

ترجمه: یهود او نصاری د مؤمنانو په باره کی د هیڅ پول تړون، دوستی او وعدی لحاظ نه ساتی په خوله مو راضی کوی او زړونه ئی ستاسی له دوستی نه بیزاره دی.

«لتجدن اشد الناس عداوه الذین امنوا الیهود»

ترجمه: د مسلمانانو په حقله به درته یهود سختترین دښمنان

ښکاره او ثابت شي.

نو چې څو دغه مبارك آيتونه او يا داسې نور آيتونه چې د مسلمانانو سره د يهودو دښمنۍ په ډاګه کوي او لوستلي ئې وي او پايې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم له زمانې نه راپدې خوا تر نن ورځې د مسلمانانو او يهودو تر منځ کشمکش ته نظر اچولې وي نو دا خبره به ورته څرګنده شي چې ربښتيا هم دغه خلك زمونږ تاريخي دښمنان دي.

کله چې د اسلامي دعوت روښانه او نجات بخښونکي لمر خپلې زرينې وړانګې د عربو په جزيره خپرې کړې او بشريت د هر ډول طاغوت له بندګۍ نه د يوه خالق ذات عبادت ته راوبلل شول، دهر شيطان په سرکه هغه د پاپ او راهب په جامه کې ؤ او که د سرمايه دارو برجواز د هلاکت توره وچلول شوه نو همدا يهود وو چې د اسلامي دعوت په وړاندې يې پټې او سکتاريتني دسيسې په کار واچولې پر نبي کريم صلى الله عليه وسلم ی دديوال د راغورځولو دسيسه جوړه کړه ولې لوی الله خپل بنده او استاذی خبر کړ او دديوال له خوا څخه لرې شو، د بني قريظه جګړې ته يې د اور او شيطانت لمن ووهله د «احزاب» په جنګ کې يې هغه ميثاق چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره يې لاس ليك کړی ؤ مات کړ او د مشرکينو په څنګ کې ودريدل، په ټولو عربو کې يې د نوی اسلامي حکومت د رانسکورولو پخاطر دعوت وچلوه او ټول کفار يې تبوك جنګ ته وهڅول.

همدارنګه يو لړ نور داسې حوادث تير شوي دي چې د مسلمانانو سره د يهودو ددښمنۍ کميت او کيفيت راپه ګوته کوي او دا راښائي چې نه يواځې يهود زمونږ دښمنان دي او دنيا کې زمونږ بر لاسي نه غواړي بلکې زمونږ عادي موجوديت هم نه شي زغملای لکه چې الله تعالى فرمايي: «ودوا لو تکفرون کما کفروا».

ترجمه: دوی خوښ ګڼي چې تاسې هم لکه د خپل ځان په شان کفار کړي.

د مسلمانانو سره د يهودو دشمنۍ، عداوت او حسد تردې حده رسيدلی دی چې کله يو يهودی استاذی په اسرائيلو کې د کوچنيانو په صنف کې د حساب درس ورکوی نو خپلو شاګردانو ته وايي: «که په يو ځای کې شل کسان مسلمانان چې وژل يې ډير اسان او بې اهميته دي موجود وي او ستاسې له جملې نه يو تن ماشوم د هغوی ۱۵ کسان ووژني نو څو تنه به باقي پاتې شي...!!!؟

ددې واقعيتونو د روښانه کيدو سره که بيا هم څوك يهود د يو انسان دشمنه عنصر په حيث نه پيژني نو څه فکر کوی چې آيا ددې سړي عقل او ضمير د بصيرت نه خالي نه دی؟

لکه څنګه چې د قرآن کريم د آيتونو او تاريخي واقعاتو په رڼا کې د يهودو فکر او کړنلاره واضحه شوه اوس ګواکي ددې پوښتنې سره مخ شئ؛ چې دا صربيان څوك دي؟ چې په بوسنيائي مسلمانانو ظلم کوی آيادا هم يهود دي؟

ډير کم وخت به داسې تيرېږي چې د بي بي سي يا نورو غربي راديوګانو نه پر مسلمانانو باندې د يهودو لخوا د ظلمونو قيصې نه او ريدل کيږي تاسو ته به هم د هغه ځلور سوه فلسطيني پوهانو خبر رسيدلی وي څوك چې تير کال د يهودو له لاسه يوې داسې دشتې ته وشړل شول چې نه هلته اوبه او ډودۍ وه او نه دسر پټولو ځای او پناه ګاه، د تير کال په جريان کې چې د الخليل په جومات کې کومه عامه وژنه وشوه او يا هم ددې په شان نور ډير مثالونه موجود دي.

دا خبره حقيقت لرې چې چيرته ظلم او وحشت وي او د پاکو خلکو د وينو تويدل وي هلته به ضرور يهود او يهوديت وي د صربيانو په باب بايد وويل شي چې صربيان يهود نه بلکې نصرانيان دي چې اکثره يې د ارثوذکسي او کاتوليکي مذاهبو پيروی کوی.

د یو سلسله واقعیتونو په نظر کی د نیولو سره به دا خبره ستاسو په ذهن کی ناسته وی چی ظلم او بربریت د یهودو ځانګړی صفت دی لکه څنګه چی په پښتو کی وایی: خری هم له برګی نه کم ندی. ځکه کله چی درته تاریخ د نصرانیانو د ظلم او وحشت قیصی بیان کړی نو په دی پوهه شی چی سگ زرد برادر شغال است.

تاسو خو به د صلبی جګړو په هکله معلومات لری؟ دا هغه جګړی وی چی د نړی له مخ نه د مسلمانانو د ختمولو پخاطر د کنیسا په امر پیل شوی وی، ټول اروپا یکی ګټون درلود او له سلو کلونو نه هم زیات وخت ونیو چی په نتیجه کی د فلسطین د اشغال کیدونه برسیره مسلمانانو ته خورا زیات او بی اندازی مالی او ځانی تاوانونه ورسیدل.

د هغی نه وروسته همدی نصرانیانو (انګلستان او فرانسی) په کال ۱۹۱٤ کی د اسلامی عثمانی خلافت د رانسکورولو په خاطر د «سالکیس پیکو» معاهده لاسلیك کړه. په کال ۱۹۲٤ د اپریل په دریمه نیټه د همدی نصرانیانو د غلام کمال اتاترك په لاس اسلامی خلافت رنګ شو چی د هغی نه وروسته فلسطین چی د اسلامی خاوری نه جلاکیدونکی برخه ده، یهودو ته وسپارل شوه، د اسلامی خلافت زیات هیوادونه د انګلیسی او فرانسی ښکیلاك په ولقه کی پریوتل د مسلمانانو ټولی شتمنی او لرغونی اثار غرب ته نقل شول د مسلمانانو په منځ کی رنګارنګ فاسد افکار لکه علمانیت، بی دینی، قوم پرستی، قیدانیت، اباصیت او داسی نور مرضونه خپاره او نشر شول چی بلاخره د مسلمانانو د ننني ضعف سبب شو.

دا ؤ د نصرانیت د ظلمونو لنډ داستان چی د مسلمانانو په حقله یی سرته رسولی دی. د بوسنیا نننی جنګونه د هماغه صلیبی جنګونو د لړی جریان دی لکه مخکی ورته اشاره وشوه چی نصرانیان هم له یهودو نه کم نه دی، نو ددوی د بشر دوستی او د انسانی حقونو د حفاظت او ساتنی ناری سوری رښتینی نه دی هوکی! داخبری د عمل په ډګر کی کوم ارزښت نه لری، دوی غواړی چی په دی مزخرفو نارو سورو خپل عیبونه پټ کړی ولی نه به د بشر دوستی چغی د غرب د لمن نه د مظلومو مسلمانانو د وینو د زیبینبلو دا تور داغ لری کړی او نه به د ملګرو ملتونو د سازمان قیام او وجود د غربیانو ظلمونو ته مشروعیت ورو‌ببښی.

که نن په یو اسلامی دولت کی د اسلامی شریعت سره سم د یوه غله لاس (قطع) یعنی پری کړی شی نو وبه وینو چی ټولی غربی حلقی دا عمل په کوم کچ غندی او دهشت په کوم پراځ کی یی شماری، خو ولی نن چی په بوسنیائی مسلمانانو کوم ظلم روان دی، دی جریاناتو د ملګرو ملتونو سازمان او د امریکا نوی نړیوال نظام څخه د مکر، خداغ او نامشروعیت پرده پورته کړه او دا یی په ډاګه کړه چی د ملګرو ملتونو مؤسسه مثبت د امریکا نوی نړیوال نظام مثبت د غرب د بشر دوستی نار سوری مثاوی د غرب د مصالحو په پام کی ساتل او د یهودیت برلاسی ده.

او که داسی نه وی نو د صربیانو سره ولی هغه چال چلند نه کیږی کوم چی د عراق سره وشو؟ پداسی حال کی چی د عراق او صربیانو ظلم د ځمکی او اسمان توپیر لری ځکه کله چی یوګوسلاویا ړنګه شوه نو ټولی وسلی د صربیانو په لاس کی پریوتی او بیا په بوسنیا کی صربیانو ته د مسلمانانو د له ایزی وژنی لپاره ورکړل شوی او په عین حال کی په بوسنیا د وسلی بندیز ولګول شو چی په دی سره یی مسلمانان لاس ترلی د صربی وحشیانو په مخ کی واچول.

اوس نو تاسی قضاوت وکړی چی آیا د نصرانیانو ظلمونه د یهودانو د ظلمونو نه کم دی؟

منزل د تولو یو دی خو سفر جدا جدا

اسلامي امارت د شريعت د نفاذ په برکت

په کونړ کي امنيت قايم کړي ؤ

مولوي عبدالغنی

ددعوت مجلي خبريال په دي لنډو وختو کي د کونړ ولايت څخه ليدنه کتنه کړي او د کونړ ولايت د روانو حالاتو په باب ئي د مولوي صاحب عبدالغني سره يوه مرکه کړي ده، چي دادي مونږ ئي د دعوت مجلي د قدرمنو لوستونکو په وړاندي ږدو.

پوښتنه: محترم مولوی صاحب! تاسو په کونړ کی د جماعت الدعوة مسئولیت په غاړه لری، زمونږ د لیدنو کتنو سره سم د کونړ په ولایت کی د امنیت په اړوند حالات ښه نه ښکاری، که پدی هکله خپل نظر څرګند کړی ښه به وی؟

ځواب: دا حقیقت دی چی په کونړ کی یو څه اندازه ګډودی وجود لری او امنیتی حالات یی زیانمن کړی دی، خو له ښیکه مرغه کوم داسی لوی حوادث او واقعات تر اوسه منځته نه دی راغلی. دلته په کونړ کی اوس ټول جهادی تنظیمونه تر څه حده متحد دی او د نظر یوالی لری. نو جماعة الدعوت هم چی ددی تنظیمونو له جملی څخه یو تنظیم دی او پدی سیمه کی الحمدلله پوره اکثریت لری، کوښښ کوی چی د نورو ورونو تر څنګ د حالاتو په ښه کولو کی ونډه واخلی او انشاء الله تعالی چی د سیمی د مسلمانانو د کامل تحفظ په لار کی یی تر اوسه هر ډول قربانی ورکړی هم ده او ورکوی یی.

پوښتنه: له کوم وخت نه چی دلته په ولایت کی متحده شورا تشکیل شوی او د ولایت چاری ورته سپارل شوی دی، د ولایت په کرمو برخو کی کوم تحولات پکی رامنځته شوی دی؟

ځواب: باید ووایم چی تر اوسه یوازی اداری تحولات رامنځته شوی او بس. ددی شورا په جوړېدلو کی جماعة الدعوت له پوره ایثار او تنازل

 څخه کار اخستی ؤ او ټولو جهادی تنظیمونو ته یی چی (ځینی دلته په کونړ کی عدم دی) برابره برخه ورکړی ده، دا ددی لپاره چی ټول ورونه په اخلاص د کونړ د ولایت خدمت وکړی او خپل ټول صلاحیتونه په ایمانداری سره د سیمی د مسلمانو خلکو د خدمت لپاره وقف کړی، اوس ټوله اداره ددوی په لاس کی ده، مگر د څو میاشتو راپدیخوا کوم د یادونی وړ کار نه دی انجام شوی.

پوښتنه: له کوموخت نه چی د کونړ والی په سفر کی دی، د ولایت امور څوك سنبالوی؟

ځواب: د والی په غیاب کی د ولایت اداره د هغه معاون مولوی صاحب محمدهاشم پرمخ بیایی نور ټول تنظیمونه چی په اداره کی ورسره شریك دی او هر تنظیم اته اته کسان متحدی شوری ته ورکړی دی چی ټول (٦٤) تنه کیږی، دده ترڅنگه د امورو او چارو په سمبالښت کی مرسته کوی.

پوښتنه: مونږ وینو چی ددی اداری نه مخکی په کونړ کی اسلامی امارت ؤ، امنیت تأمین او په څنگ کی یی یو مستحکم شرعی نظام موجود ؤ نو خلك ډیر مطمئن ښکاریدل، مگر اوس د سیمی خلك پوره اطمینان نه لری، علت څه دی؟

ځواب: دا واقعیت دی چی اسلامی امارت د شریعت د نفاذ په برکت په دی ولایت کی امنیت قایم کړی ؤ، خلك پخپل ژوند مطمئن وو او د اداری مسئولینو په صدق او اخلاص خپل ورسپارل شوی وظایف سرته رسول، دا اسلامی امارت د الله تعالی یو عظیم نعمت ؤ چی ددی سیمی خلکو ته ئی ورکړی ؤ، مگر اوس پدی پوه شوی یو چی مونږ د نورو تنظیمونو د فشار په آثر گډه اداره جوړه کړه او د هغه لوی نعمت څخه موخان محروم کړ، نو داثابته ده چی د الله تعالی په نعمتونو کفران بد نتائج منځته راوړی.

پوښتنه: د کونړونو اسلامی امارت چی د کونړ ولایتی اداره یی په کنټرول کی وه په کونړ کی پاټکونه نه وو، اوس چی گورو د کونړ - جلال آباد په لویه لاره یی شمیره پاټکونه د لوټ مار او ناروا محصولونو پخاطر اچول شوی دی، ستاسو په نظر دا اوسنی اداره په دی قادره نه ده چی دا مشکلات حل کړی؟

ځواب: په ډیر تأسف سره باید ووایو چی پاټکونه ورځ په ورځ نور هم پیداکیږی او جرم پیشه خلك د جرم کولو جرئت پیداکوی او ددی سیمی د اوسیدونکو اوهم د نورو مسافرینو ژوند ناارامه کوی مگر ددی ټولو ستونزو د حل لپاره باید ووایم چی تنظیمونه د اخلاص څخه کار نه اخلی، زه نه پوهیږم چی کوم داسی فشار موجود دی چی ددی سیمی د مسلمانانو خدمت ته د تنظیمونو ملا ماته ده او په صحیحو معنو کی کوشش نه کیږی. تاسی به خبریاست چی د اسلامی امارت په وخت کی د هر ډول مجرم په مقابل کی سخت مقاومت کیده، مجرم به نیول کیده او محکمی ته به وړاندی کیده او په مجرم به حد قائیمیده ، د اسلامی امارت اخلاص وجه وه چی عامو خلکو هم د امنیت په ټینگولو کی د امارت له مسئولینو سره مرسته کوله او د کونړ په هره ساحه کی د امنیت د تأمین پخاطر مسئولی پوستی پرتی وی او کلی والو شوراگانو هم په کی فعال رول لوباؤه.

پوښتنه: د خارجی خیریه مؤسسو په یوه عمومی غونډه کی د کنړ ولایت په یوه بدامنه سیمه وشمیرل شو، ټولو خیریه موسساتو دا تشویش ښکاره کړی دی چی دلته امنیت تأمین نه دی، ستاسی په نظر دابه د کونړ د بیا ودانولو په کارونو کی زیانمن واقع نشی؟

ځواب: دا خبره حقیقت لری، کیمه سیمه کی چی د خیریه مؤسساتو د کارکونکو امنیت څوك تضمین نه

کړي، خیریه موسسات د بیا ودانولو کارونو ته زړه نه ښه کوي، بیا هم مونږ کوښښ کوو چې پدې هکله د ټولو تنظیمونو د ګډې شورا او ولایتي اداري خاصه توجه دې اړخ ته راوګرځوو چې د پاټکونو د ختمولو او ددوی د امنیت په هکله اقدام وکړي. زه د جماعة الدعوت له طرفه دا وایم چې جماعة الدعوت ددې مشکلاتو د هوارولو په لار کې هر ډول قرباني ته حاضر دی، مګر د اکثرو اداري شعباتو په سر کې زمونږ د نورو تنظیمونو ورونه دي، مونږ ددوی سره په ګډه د حالاتو په ښه کولو کې کوښښ کوو.

پوښتنه: ددې ولایتي شورې د جوړېدلو په وخت کې ستاسو په تعهد پاڼه کې وعده شوې وه چې د ګوندونو نمایندګان به ګوندي ګټې په نظر کې نه نیسي او یوازې به سیمې د مسلمانانو ګټې به مقدمې ګڼي آیا پدې وعده څه وفا شوې ده؟

ځواب: د ګډې اداري په جوړولو کې مونږ ټولو دا وعده کړې وه چې ټولنېزې ګټې به مخکې کوواو ګوندي تعصبات به نه لټوو. زمونږ دا امید او ارزو وه چې ټول ورونه به د عامو خلکو خدمت ته اولنی ترجیح ورکوي، مګر له امید سره سم هغسې ونه شول، ځیني ورونه دخپلو ګوندونو د مرکزي مقاماتو څخه هدایت اخلي او د ولایت د خلکو ګټې په نظر کې نه نیسي، لدې امله مسایل او مشکلات منځته راځي.

پوښتنه: ددې ډول ټولو مشکلاتو د حل لار ستاسې په نظر څه ده؟

ځواب: د ټولو تنظیمونو ورونه باید له پوره اخلاص څخه کار واخلي او په اخلاص د خلکو خدمت ته ځانونه وقف کړي، ګوندي ګټې پرېږدي، د اسلامي امارت د کار طریقه خپله کړي، اسلامي شریعت عملاً نافذ کړي او خلك مطمئن کړي ځو له دې شورې او اداري سره هم هر ډول تعاون ته آماده شي، تاسې ته به معلومه وي چې په اوسني اداره کې اهم شعبات او بالخصوص امنیتي پوستونه د نورو تنظیمونو ورونو ته ورکړل شوي دي او د اداري په سر کې ئې هم مولوي صاحب محمدهاشم دی، چې په اسلامي حزب پورې اړه لري، د کونړ والي د ګډې اداري له جوړېدلو څخه ډېره موده وروسته په سفر کې ؤ چې په کار ده چې د کونړ خلك دې مسئلې ته خاصه توجه او د حالاتو په سمولو غور وکړي، یوازې اداري ته ټول مسایل حواله نه کړي او اهلو اشخاصو ته باید وظایف او مسئولیتونه ورکړي شي، په بل صورت کې فکر کوم چې مشکلات نور هم زیاتیدلی شي.

پوښتنه: په موجوده اداره کې له بعضو ورځنو څخه د اسلامي امارت پحقله شکایات اورو، هغوی اداري ته ګډودي وائي ستاسو نظر څه دی؟

ځواب: څمونږ توصیه او مشوره ټولو ورونو ته داده چې د اسلامي امارت اخوت فضاء رامینځته کړي په صدق او اخلاص ددې زورېدلی ملت خدمت ته ملا وتړي. داسې حرکات ونه کړي چې ملت ته مسایل او مشکلات راپیداکړي دوی باید د الله تعالی څخه وویرېږي او په دې د الله تعالی څخه شکر اوباسي چې د جهاد ثمره او میوه دې ولایت کې شهید مولوي صاحب جمیل الرحمن (رحمه الله) د اسلامي امارت په نوم ددې منطقې خلکو ته ښودلې وه، د کوم نه چې اوسني موجوده مشران عاجز دي. شرع الله ئې نافذ کړې او پوره امنیت ئې قایم کړې وه. دا عمل د یو تنظیم (جماعة الدعوت) د نورو ورونو په همکارۍ د کنړ ولایت په نوې فیصده علاقه کې عملي کړې وه، مګر اوس دا ټول تنظیمونه هغه رنګه امنیت په آسدآباد کې تر اوسه منځته نه دي راوړی.

والسلام

د یمن جګړه او لاملونه ئې

د محمد اصف لیکنه

یمن د سعودی عربستان جنوب لویدیځ پلو ته پروت یو عربی هیواد دی او اسلامي ځلانده تاریخ لری چې لویدیځ ته ئی سور سمندرګی او جنوب ته ئی د عدن خلیج واقع دی، ۵۳٦۸۹٦۹ کیلو متر مربع مساحت لری ځو سوه کاله وړاندی کله چی د«حمیدالدین» د کورنی تش په نامه حکومت له منځه لاړ، نو د کفری ځواکمنی پوسیله د اسلامي امت د ټوټه کیدو په بهیر کی یمن هم په شمالي او جنوبی برخو وویشل شو، په شمالی یمن کی د «زید ین ائمه ؤ» او په جنوبی یمن کي د «صوض مشایخو» په نوم بیلو بیلو صوفیانه نظامونو حکومت درلود، ددی حکومتونو له انحطاط نه وروسته جنوبی یمن چي له نفتو څخه غنی سیمی او ستراتیژیکي نقطی لری، د برطانوی استعمار په منګولو کی ولوید.

ځو کاله وروسته په جنوبی یمن کی د آزادی بیرغ ورپید او په شمالی یمن کی هم د نا اهلو حکامو پر ضد انقلابی پاڅون وشو او ډیر یمني ځوانان د مصری مداخلی په وجه قتل عام شول خو انقلاب بی نتیجی پای ته ورسید.

په جنوبی یمن کی د یمن ډموکراتیك ګوند چی یو مارکسست ګوند ؤ دقدرت په ګدی کسیناست او په شمالی یمن کي مؤتمر شعبی ډلی حکومت کاوه.

یمن له سلګونو کلونو بیلوالی وروسته په ۱۹۹۰م کال د مي د میاشتی په ۲۲ نیټه متحد اعلان شو، خو دا چی ددواړو خواو تر منځ د عقیدي پیوستون نه وه موجود په واقعي توګه سره مدغم نه شول، حتی له شمال څخه یو غونډ جنوب ته اوله جنوب څخه یو غونډ شمال ته هم منتقل نه شو.

له اتحاد نه وروسته د ۱۹۹۳م کال د اپریل د میاشتی دعامو انتخاباتو په نتیجه کي علی عبدالله صالح د جمهور رئیس او علی سالم البیض د هغه د معاون په توګه وټاکل شول، خو علی سالم البیض د جمهوری ریاست د معاونیت ددندی له قبلولو او صنعا ته له تللو څخه ډډه وکړه، پدی اساس بیا ددواړو یمنونو تر منځ دجګړی اوربل او متحد یمن بیا په شمالي او جنوبی برخو وویشل شو چی د شمالي یمن مشری د علی عبدالله صالح او د جنوبی یمن مشری د علی سالم البیض په غاړه وه.

د یمن د دی ورانوونکی او کور سوځوونکی جګړی په نتیجه کی چی په یمن کی کوم حالات را منځته شوی او عامو مسلمانانو ته ځومره تلفات او

ضایعات رسیدلي، د ټول اسلامی امت لپاره د غم او خفګان اسباب برابروی، هلته د افغانستان په څیر فصلونه تباه شوی، بندونه او سر کونه ویجاړ شوی او ښارونه په کنډوالو بدل شوی دی، د کرملین غلامانو اوس د سپینی مانی د غلامی حلقه په غاړه کړی او د سپینی مانی د واکمنانو د رضاء لپاره ئی د اسلامي امت په ستونی چاړه ایښودی او ډیری میاشتی کیږی چی د یمن مسلمان وګړی ددی کورنی جګړی په اور کی سوځی.

سره لدی چی علی عبدالله صالح هم د اسلامي تحریك غړی نه بلکه یو دیموکرات او سیکولر شخصیت دی خو د یمن سوسیالست ګوند، چی د جنوبی یمن خلکو ته ازمایل شوي او د واکمنی دوره ئی تیره کړی ده، په مقابل لوری باندی هغه شرایط او قرارداد ومانه کوم چی په ښکاره ډول د یمن سوسیالست ګوند ته د بری چانسونه برابرول.

د قرارداد جزئیات په لاندی ډول دی:

الف: له رئیس دولت نه ځینی صلاحیتونه راکم او صدر اعظم ته ورکړل‌شول.

ب: د اطلاعاتو او کلتور وزارت ختم او دنده ئی یو ملی مستقل هیئت ته ورکړ شوه.

ج: له ټولو ښارونو څخه فوځي واحدونه او وسله وال ځواکونه وایستل شول.

د: له هغو قبایلو څخه غیر رسمی وسله ټوله شوه کومو چی د دولت او مؤتمر شعبی د ګوند ملاتړ ئی کاوه.

هـ: ددهشت ګردی او ترووریزم د مخنیوی په نوم ئی یو قرارداد امضاء کړ څو پدی پلمه د اسلامي تحریك د خوځنده غړو د فعالیت مخه ونیسی.

همدارنګه سوسیال ګوند دخپلو شومو پلانونو د عملی کولو او ددی قرار داد د تنفیذ لپاره پدی باندی هم وتوانیده چي له مقابل لوري نه په بین المللی سطحه ضمانتونه واخلی او ددي سیاسی مانور په نتیجه کی ئی لاندی اهداف تر لاسه کړل.

أ- دیمن سوسیالست ګوند دمخه تر دی چی د قرار داد جزئیات تطبیق او تنفیذ شی، د مقابل لوری پر ضد ناوړه تبلیغات او پروپاګندونه پیل کړل څو پدی وسیله مقابل لوری عکس العمل ته وهڅوی او په ملی او بین المللی سطحه ئی د امنیت د خربوالی د مسؤل په توګه نړیوالو ته ورویپژني.

۲- ددی لپاره چی امریکائیان او فرانسویان په یمن کی د خپلو شرکتونو او مصالحو د حفاظت په خاطر په تشویش کی واچوی، سوسیالست ګوند خپلو یو شمیر فوځی واحدونو ته د لوټمار او تښتونی قومنده ورکړه څو د شمالی یمن له ځینو فوځي واحدونو سره یو ځای ځینی ستراتیژیك ځایونه قبضه کړی، لکه چی همداسی وشول او امریکائیانو او فرانسویانو د خپلو اتباعو او د تیلو د شرکتونو او نورو مصالحو د [illegible] لپاره دیمن او اردن له ځواکونو څخه یو مشترك فوځی کمیسیون جوړ کړ چی د امریکا او فرانسی یو شمیر فوځی‌پرځ واحدونو هم په کی ګډون درلود څو د فوځی نښتو مخه ونیول شی او امنیت قایم او استقرار ومومی.

۳- دیمن ګاونډیو هیوادونو ته ئی دا ور وپوهول چی کواکی د هغوی د مخالفینو رهبران ددوی د مخالفینو له خوا حمایه کیږی او د ترووریزم زمینه ورته ور برابروی، څو پدی وسیله دیمن ګاونډی هیوادونه د یمن په کشاله کی مستقیماً مداخلی ته وهڅوی.

٤- ددی لپاره چی د یمن سوسیالست ګوند دسیمی هیوادونه له خپل دریځ نه خبر کړی، دسیمی هیوادو لکه (سعودی، مصر، سورئی، کویت او اماراتو) ته ئی د دی ګوند مستقل هیئتونه ولیږل، په اردن کی د معاهدي او د ضمانتونو د لاسلیك مراسم لا پای ته رسیدلي نه

وو چې په «جنوبي ابين» ولايت کې د شمالي يمن او جنوبي يمن د قواؤ تر منځ جګړه ونښته، ديمن سوسيال ګوند د خپلو قواوو د ملاتړ لپاره دري نوري تازه دم قواوې او قومي مليشې د جنګ ډګر ته واستولې خو له يوې خوا د شمالي يمن قواوې کلا بند کړې او له بلې خوا په هغه ولايت کې اسلامي تحريک او د هغه تر څنګ د افغانستان له جهاد څخه راغلي مجاهدين هم پرې وخپې، خو د الله تعالى فيصله بيله وه، د هغه د رحم په اساس ټول يمن ته د جګړې د خوريدو مخه ونيول شوه.

د يمن سوسيالست ګوند چې د ټل لپاره ئې له خپل وحشت او بربريت نه کار اخيستی، له دې معاهدې نه لږه موده وړاندې ئې په جنوبي او شرقي يمن کې د مسلمانانو په حيثيت باندې هغه ناوړي وکړې چې تاريخ به ئې هيرې نه کړي د مسلمانانو نواميس ئې تر پښو لاندې کړل، د هغو شخصي ملکيتونه ئې مصادره کړل، کورونه او مالونه ئې ورته لوټ کړل، ډير مخلص مسلمانان ئې په شهادت ورسول، خو دا چې د افغانستان له جهاد نه ستانه شوي مجاهدين له خپلو مسلمانانو وروڼو سره يو ځای شول او ددوی پر ضد ئې په قيام لاس پورې کړ.

علي عبدالله صالح چې د يمن د جمهور رئيس په توګه ټاکل شوی وو، د اسلامي تحريک غړی د تروريستانو په نوم له خپل هيواد نه وشړل او د خليج په جګړه کې دده موقف ددې سبب شو چې له ګاونډي ملکونو سره ئې روابط خړ پړ او په انزواکې ولويږي. ديمن سوسيالست ګوند له همدغو ضعفونو څخه استفاده وکړه او ګاونډيو ملکونو ته ئې خپل هيئتونه واستول، يو هيئت ئې قاهرې ته واستوه او د هغه ځای واکدارانو ته ئې وويل چې که د مقابل لورې پروا ونه کړو نو ستاسو هغه مخالفين به چې په يمن کې اوسيږي لاس نيولي در وسپارو، د سعودي له حکومت سره ئې نوې تعلقات قايم کړل او داسې ئې څرګنده کړه چې د خليج په جګړه کې دده موقف د علي عبدالله صالح نه بيل و او هم ئې د عراق د بعث د ګوند پر ضد په سوريه کې د سورئې له بعث ګوند سره خپل ملا تړ اعلان کړ. پدې اساس د يمن سوسيالسست ګوند وکولای شو چې په خارجي سطحه خپل دښمن له پښو و غورځوي.

لنده دا چې ديمن سوسيالست ګوند په داخلي او خارجي سطحه دخپل دښمن د تضعيف لپاره له هر ډول ممکنو لارو چارو څخه کار واخيست خو د الله تعالى فيصله بيله وه، بالآخره له اويا ورځنی خونړې جګړې وروسته دشمالي يمن قواوو د جنوبي يمن د قواوو وروستي سنګر فتح کړ او پدې ترتيب ديمن کورنۍ جګړه د فعلاً لپاره پای ته ورسيده.

د شمالي يمن قواوې کله چې د عدن ښار ته په فاتحانه توګه ورننوتې، د «سيرا» د شرابو جوړولو مشهوره کارخانه ئې د فساد او فحشا له نورو مرکزونو سره يو ځای وسوځوله. د يمن حکومت د جنوبي يمن د څو مشهورو شريرو مشرانو نه پرته نورو ټولو وسله والو ډلو ته د عمومي عفوې او له خپلو ګاونډيو سره د ښو روابطو دساتلو اعلان وکړ.

په يمن کې د نوې دولت او حکومت له تشکيل نه وروسته اسلامي تحريک هم نوې مرحلې ته داخليږي، دا چې د يمن نوی حکومت به د جنوبي سوسيالست ګوند له ټکولو وروسته د اسلامي تحريک له غړو سره څه سلوک کوي او يا دا چې د يمن ګاونډي ملکونه او غربيان د يمن نوي دولت او حکومت په کومه تيګه تلې؟ او يا دا چې علي عبدالله صالح به په راتلونکې دولت کې شرعي امورو ته څومره ارزښت ورکوي؟ دا هغه پوښتنې دي چه وروستي پيښې به هغو ته ځواب ووائي.

په تير ...

د دين مظلوم

مرحوم: كليم الله «متين»

تر اسلام پخوا د عربو زماني ته ځکه د جاهليت زمانه ويل شوي چي په هغه زمانه کي له علم او پوهي نه پرته د وهمونو، قياسونو، گمانونو يا د خپلو خواهشاتوپه بنا انسانانو د ځان لپاره د ژوند کولو لاري چاري ټاکلي وي، انسان چي د ځان لپاره په هره زمانه کي دغه لاره چاره غوره کړي هغي ته به هرومرو د جاهليت لاره ويل کيږي. په سوونځيو او پوهنځيو کي چي د الله تعالي ددين او الهي قانون او د الله تعالي د علم په خلاف هر بل څه تعليم او تحصيل چي زده کړي شي. هغه به يوه جز وي او لږه پوهه وي، د انسان رهنمائي نه شي کولي. او څوک چي د الله تعالی له علم نه بي پروا شي او خپل ژوند د وهمونو، قياسونو او گمانونو او خپلو خواهشاتو په ککړتيا کي تنظيم کړي، هغه هم په هغه جاهليت کي راځي چي تر اسلام پخوا د جاهليت زمانه وه.

هر څوک چي قرآن مجيد په غيړدلو سترگو وگوري نو ورته به څرگنده شي چي دا کتاب خپلو منونکو ته داسي پروگرام نه ورکوي چي هغوي دي د کفر او کافرانو او ملحدانو تر حکم او حکومت لاندي د هغوي د رعيت په حيث خپل مذهبي ژوند وکړي بلکه په ډاگه ورته وائي چي ځانته خپل اسلامي حکومت جوړ کړي او د خپل دين تر سيوري او لاربښووني لاندي خپل ژوند تنظيم کړي او ترقي او پرمختگ وکړي. هغه پرمختگ او ترقي چي د اسلام ددين پيروان ئي د کفر او الحاد تر سلطي او حکم لاندي وغواړي هغه د اسلام په نزد ترقي او پرمختگ نه دي بلکه جاهليت او حماقت دي. اسلام له خپلو پيروانو څخه غواړي چي هغوي خپل حق دين په فکري، اخلاقي، مذهبي، تهذيبي ، قانوني، سياسي او اقتصادي لحاظ سره د غالب کولو لپاره مبارزه وکړي او که ضرورت شي نو د سر او مال قرباني ورکړي. همدغه شان د اسلام دين خپلو پيروانو ته د بشر د ژوند د اصلاح داسي پروگرام ورکوي چي د هغه په ستره برخه باندي هله عمل کيدي شي چي په سيمه کي د حکومت او اقتدار واگي د ايمان د خاوندانو په لاس کي وي. قرآن مجيد د خپل نزول مقصد داسي بيانوي چي:

«انا انزلنا اليك بالحق لتحكم بين الناس بما اريك الله (النساء - ١٠٥)

يعني: اي پيغمبره! مونږ دا کتاب د حق سره په تا نازل کړي دي چي تاسي د خلکو تر منځ ددي کتاب په رڼا کي داسي فيصله او حکم وکړي چي الله درښودلي ده.

په دي کتاب کي چي د زکوة د اخستلو او ويش کوم حکمونه راغلي

دي، هغه په ډير صراحت سره تر ځان وروسته د يو داسي حکومت تصور کوي چي د يوي ټاکلي قاعدي سره سم له خلکو څخه چي مستحق وي زکوة واخلي او په مستحقو کسانو باندي ئي وويشي او په دغه لړ کي داسي فرمائي:

«إنماالصدقات للفقراء والمسكين والعاملين عليها والمؤلفة قلوبهم وفي الرقاب والغارمين و في سبيل الله وابن السبيل فريضةً من الله والله عليم حكيم» (التوبه - ٦٠)

يعني: دا صدقات په اصل کي د فقيرانو (حاجتمندانو) مسکينانو (بي چاره ګانو او غريبو) او هغو خلکو چي د صدقاتو په چارو مامور وي (يعني داسي کسانو چي که څه هم فقير او مسکين نه وي خو چي د زکوة د اخستو او ويش او نورو چارو ماموريت ولري.

او هغو خلکو دپاره چي د هغوي د زړونو راغب کول مقصد وي (که څه هم فقير او مسکين نه وي خو د اسلام لپاره د هغوي نه څه کار اخستل مقصد وي) د غاړي خلاصولو او پور ورېد د مرستي لپاره (يعني د غلامي څخه د خلکو د نجات او د پوروړو د پور خلاصولو لپاره) او د الله تعالى په لاره کي (يعني په ټولو هغو چارو کي د زکوة له ځانګي څخه د راغلي پيسو په وسيله د انسانانو د بنيګړي کارونه وشي او د الله تعالي په لاره کي د جهاد او د اسلام د مخالفانو او کافرو او ملحدانو په خلاف ددين د دفاع او پرمختګ لپاره په کار راوستلي شي، د مجاهدينو لپاره وسله او مهمات واخستل شي). او د زکوة له پيسو څخه د مسافرو مرسته وشي يعني هغه څوك چي که څه هم په خپل کور او هيواد کي د زکوة د پيسو اخستلو څخه غني وي او مستحق نه وي خو چي په سفر کي محتاج شي نو ددغو پيسو څخه به ئي مرسته کيږي. دا يوه فريضه ده چي د الله تعالي له خوا فرض کړي شوي ده او الله تعالي پوه او د حکمت خاوند دي".

همدغه شان په دغه لړ کي بيا فرمائي چي: خذ من اموالهم صدقةً تطهرهم و تزكيهم بها و صل عليهم ان صلوتك سكن لهم والله سميع عليم." (التوبه - ١٠٣)

يعني:" اي پيغمبره! ته ددوي له مالونو څخه صدقه واخله او دوي پاك کړه او (دنيکي په لاره کي) ئي وړاندي کړه او دوي ته د رحمت دعاء وکړه ځکه چي ستا دعاء ددوي لپاره د تسکين موجب ده او الله تعالي هرڅه اوري او پوهيږي."

په دي کتاب کي چي د سود د بنديز کوم حکم ورکړي شوي دي او د سود د معاملي د جاري ساتونکو په خلاف د جګړي اعلان شوي دي لکه چي فرمائي:

الذين ياكلون الربوا لا يقومون الا كما يقوم الذين يتخبطه الشيطن من المس ذلك بانهم قالوا انما البيع مثل الربوا و حل الله البيع و حرم الربوا فمن جاءه موعظة من ربه فانتهي فله ما سلف و امره الي الله ومن عاد فاوليك اصحب النار هم فيها خلدون. (البقره-٢٧٥)

يعني:" کوم خلك چي سود خوري د هغوي حال د هغه چا په شان دي چي شيطان ورسره لاس لګولي وي (ليونتوب پري حمله کړي وي) او ليوني شوي وي) په دغه حالت کي د اخته کيدو په وجه وائي چي «سوداګري خو هم اخر د سود په شان يوه معامله ده» په داسي حال کي الله تعالي سوداګري حلاله کړي او سود ئي حرام کړي دي.

هرچاته چي د هغه د پروردګار له خوا دا نصيحت ورسيد او له سود نه ئي لاس واخيست، نو څه چي ئي پخوا سود خورلي دي هغه ئي وخوړ معامله ئي د الله تعالي سره ده او هغه

څوك چي بيا هم (دحكم د اوريدلو سره سم) د سود د خوړلو نه راونه ګرځيد نو هغه جهنمي دي په جهنم کي به تل پروت وي."

په دي حکم پسي وروسته بيا فرمائي: يا ايها الذين امنوا اتقوالله و ذرو ما بقي من الربوا ان كنتم مؤمنين. فان لم تفعلوا فاذنوا بحرب من الله ورسوله و ان تبتم فلكم رؤس اموالكم لا تظلمون ولا تظلمون. (البقره - ۲۷۸- ۲۷۹)

يعني، اي مؤمنانو له الله تعالي نه وويريږي او ستاسي چي په خلکو باندي د سود کومي پيس يا څه پاتي وي هغه پريږدي که چيري په رښتيا سره مؤمنان ياست. خو که چيري داسي مو ونه کړه نو خبر شئ چي د الله تعالي او د هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم له خوا ستاسي په خلاف د جګړي اعلان دي. اوس هم چي توبه وکړي (اوسود پريږدي) نو تاسي د خپلي اصلي سرمايي مستحق ياست، ظلم مه کوي او نه به په تاسي ظلم وشي."

دا عکس العمل په داسي حالت بنودلي شي چي هيواد او سيمه کي سياسي، اقتصادي او اداري نظلم پوره پوره د مؤمنانو په لاس کي وي.

ددين په دي کتاب کي د قاتل نه د قصاص حکم داسي فرمائي: يا ايها الذين امنوا كتب عليكم القصاص في القتلي الحر بالحر والعبد بالعبد ولانثي بالانثي فمن عفي له من اخيه شئ فاتباع بالمعروف و اداء اليه باحسان ذلك تخفيف من ربكم ورحمة فمن اعتدي بعد ذلك فله عذاب اليم. ولكم في القصاص حيوة يا اولي الالباب لعلكم تتقون. (البقره - ۱۷۸- ۱۷۹)

يعني:" اي مؤمنانو! د قتل په دعواؤ کي تاسي ته د قصاص حکم ليکل شوي دي. که ازاد سړي چا وژلي وي نو د آزاد نه دي بدل واخستل شي، که غلام څوك وژلي وي نو د هغه غلام نه دي بدله واخستل شي او که ښځه ددغه جرم مرتکبه شوي وه نو هغه دي قصاص کړي شي. که چيري د قاتل سره د هغه وړور د څه نرمي او مراعات کولو ته تيار شو نو په معرونه او مروجه لاره دي ورسره د وينو د حق (خون بها) خبره پاکه کړي او قاتل ته لازم دي چي د ويني حق (خون بها) په ښه او رښتيا طريقه ورکړي. دغه کار ستاسي د پروردګار له خوا تخفيف او رحمت دي او څوك چي په دي سربيره زياتي وکړي نو د هغه جزا دردناکه ده .

اي د عقل او پوهي خاوندانو ستاسي لپاره په قصاص کي ژوند دي. اميد دي چي تاسي به ددي قانون له خلاف عمل کولو څخه ځان وساتئ."

په دي حكم کي د يوه بل جاهليت ترديد شوي دي چي پخوا په زياترو مغزو کي ؤ او اوس هم د زياترو کسانو په مغزو کي ليدل کيږي. څنګه چي د ناپوهه کسانو يوه ډله د کسات يا انتقام په لړ کي د افراط خواته تللي ده هماغه شان يوه بله ډله ئي د عفو په لړ کي د تفريط خواته تللي ده او دا وروستي ډله د اعدام د جزا په خلاف دومره تبليغ کوي چي ځينو خلکو ته د اعدام له جزا نه يو ډول کرکه راپيدا شوي ده او په نړۍ کي ځينو هيوادونو ښېخي دغه جزا منسوخ کړي هم ده. قرآن دي خبري ته د توجه راړولو او پام کولو لپاره د عقل خاوندان مخاطب کړي دي چي په قصاص کي د ټولني د ژوند لپاره ژوند دي. کومه ټولنه چي انساني ژوند ته د احترام نه ګوټکو روح او ژوند محترم ګڼي هغه ټولنه په حقيقت کي په لستوڼي کي مار ساتي او په دغه کار سره چي د يوه قاتل ژوند بچ کوي د ډيرو بې ګناهو انسانانو ژوند په خطره کي اچوي.

«نوربيا»



درنو او قدرمنو لوستونکو!
په تیره گڼه کي مو د کشمیر د سیاسي حالاتو په باب یو مضمون نشر ته وسپارلو، په دي گڼه کي داچي د کشمیر ریاست یو پوره تاریخي حیثیت لري نو لازمه مو وګڼله چي ددي ریاست په جغرافیایي اړخونو څه ناڅه رڼا واچوو، هیله ده چي د ګرانو لوستونکو د استفادي وړ وګرځي.

د هند ترسلطي لاندي د جمو او کشمیر ریاست دآسیا د لویي وچي تقریباً په منځني او د هند د نیمي وچي په شمال کي پروت دي، ددي وچي نه ورته د آسیا زړه او د هند د نیمي وچي تاج ویل کیږي.

د کشمیر ریاست شمال طرف ته روسیه او چیني ترکستان، جنوب طرف ته هند او پاکستان، ختیځ ته یي تبت او لویدیځ طرف ته یي افغانستان واقع دي. د پامیر لوړي سطحي چي د نړي د بام په نوم یادیږي د کشمیر په شمال کي موقعیت لري.

د جمو او کشمیر ریاست (۲۱۱۱۷۷.۵) کیلومتره مربع مساحت لري، چي (۸٤۹٥.۰) کیلومتره مربع یي د پاکستان او نوره ئی د هند تر تسلط لاندي ده. د مساحت په لحاظ د جمو او کشمیر ریاست د نړي د دري نوي ۹۳ ازادو ممالکو له جملي څخه لوي والي لري.

د جمو او کشمیر ریاست له دولس (۱۲) میلونو څخه زیات نفوس لري چي د نفوس په لحاظ د نړي د ۱۱۰ ازادو هیوادونو څخه برتري لري. د جمو او کشمیر د ریاست پر خاوره مختلف قومونه او قبیلي آبادي شوي دي. د کشمیر له قومونو او قبیلو څخه گلگتي، شینا، بلتي، لداخي، کشمیري، بانهه وال، گوجر او ډوگره قبیلي د یادوني وړ دي.

د جمو اوکشمیر په شمالي علاقو کي د ترکمنستان، تاجکستان، ازبکستان، قازاقستان، جارجیا، ازربایجان او منگولیا څخه راغلي خلك اباد او ددي سیمي اوسیدونکي گرځیدلي دي همدارنگه د کشمیر په لویدیځو سیمو کي د افغانستان ایران، عراق، شام او ترکیي او جنوبي سیمو کي راجپوتانه خلك میشته شوي دي او استقرار یي موندلي دي.

د جمو او کشمیر پر خلکو مختلفو تهذیبونو خپل آثر کړي دي مگر د منځني آسیا د هیوادونو تهذیب پکي بارز آثر لري.

د کشمیر د ریاست د آیالاتو په

باب ځيني تاريخي څيړني:

کشمير: د جيولوژي (ارضياتو) پوهان وايي چي لس کروړه کاله د مخه د کشمير خط سمندر لاندي کړي وه، د طبيعي حالاتو په بدلون سره د هماليي دغرونو څوکې ښکاره شوي چي په تدريج سره ورو ورو د هماليي د غرونو په لمنو کي د اوسني کشمير دا واديانې او دري په ظهور کي راغلي او د وخت په تيريدو سره د انسان د ژوند جوګه شوي.

د کشمير د نوم په هکله مختلف روايات چي تاريخي حقايقو ته نژدي دي وجود لري. په (۵۵۸) قبل الميلاد کي بني اسرائيلو په ټوله نړي راج او تسلط درلود، چي ددي بني اسرائيلو له جملي څخه ځيني خلك چي تجارت او سوداګري به يې کوله، په افغانستان، ګلګت، بلتستان او د کشمير په وادي کي آباد شوي دي، دغو تجارت پيشه خلکو دي سيمي ته «د کشمير » نوم اينښي وو څرنګه چي «کشمير» د عبراني ژبي کلمه ده او بني اسرائيلو به دا کلمه د شام دپاره استعمالوله، نو دا سيمه ورته د شام غوندي چي د هغه وخت ښکلي او سرسبزه سيمه وه، ښکاريده، نو ځکه ئي ورته د کشمير نوم غوره کړي وو، او ځيني روايات وائي چي ددي سيمي يو مهاراجه چي «کشپ»نوميده، خپل نوم ئي د خپلي محبوبي له نوم سره چي «مير» نوميده يوځاي کړ او دا سيمه ئي په «کشمير» ونوموله، بيا ورو ورو د خلکو د لهجو په تغير سره په کشمير مشهوره شوه.

جمو: د جمو د سيمي د پيژندګلوی په باب پوهان داسي رڼا اچوي چي د «باهو» د رياست راجه «جانبو» دي علاقي ته د ښکار دپاره راغلي وو، څرنګه چي دا سيمه د سيل او تفريح دپاره يوه مسکونه او آمن ناکه سيمه وه، نو په ذهن کي ئي دا خيال راغي چي په دي سيمه کي يو ښار جوړ کړي شي، نو دي سيمي ته ئي د «جانبونګر» نوم ورکړي دي، د وخت په تيريدو او د لهجو په بدلون سره بيا د «جمو» په نوم مشهور شو.

بلتستان: بلتستان په پخوا زمانو کي د «بلورستان» په نوم ياديده، د اسلامي عصر په راتګ سره د بلورستان نوم په بلتستان بدل شو.

ګلګت: د ګلګت پوهاني نوم «ګل ګد» وو، د ګل ګد کلمه د ترکي ژبي کلمه ده چي د «تجارتي پړاؤ» په معني وه، د منځني آسيا او د هند د نيمي وچي د خلکو تر مينځ تجارتونه د همدي لاري څخه کيدل، نو ځکه ورته د «ګل ګد» نوم اينښودل شوي وو، وروسته بيا دا نوم په «ګلګت» مشهور شو.

پونچ: پخواني د پونچ رياست د کشمير يوه برخه وه. يو چيني سياح (هيون شانګ) وائي چي تر (۶۲۳) ميلادي کال پوري دي سيمي ته «برونس» ويل کيده چي د «دفاعي سيمو» په معني ده، اوس هم په کشميري ژبه کي پونچ ته برونس ويل کيږي.

★★★★★

پرسشهای شما در روشنی قرآن وحدیث

گرد آورنده: محراب الدین «یوسفزی»

برادر گرامی ما عبدالصمد «یوسفزی»، از کیمپ جلوزی ضمن نامه ارسالی خویش بعد از ادای آداب وسلام مسنونه درباره تعویذ و بند و دم پرسشی نموده که اینك به جواب آن میپر دازیم (بعون الله):

تعویذ از تعوذ واعوذ گرفته شده ومعنایش پناه جستن از ضرر چیزیست، وقتی به تلاوت کلام ربی شروع مینمائیم میگوئیم: «اعوذ بالله من الشیطن الرجیم» چون امر الله تعالی است که میفرماید «فاذا قرء القرآن فاستعذ بالله» وقتی قرآن مجید میخوانید بنام الله تعالی از شرشیطان رانده شده پناه جوئید، وقتی انسان بغیر الله تعالی به چیزهای دیگر پناه جوید به همان چیز گذاشته می شود، چنانکه درحدیثی به روایت ابی هریره رضی الله عنه آمده که عیسی بن عبدالرحمن رضی الله عنه میگوید که عبدالله بن عکیم رضی الله عنه مریض بود، به عیادت شان رفتیم. کسی برایش گفت که کدام تعویذ میکرده‌ی! اوگفت آیا چیزی را اویزان کنم که آن حضرت صلی الله علیه وسلم درباره آن فرموده : «من تعلق شیئاً وکل الیه» (رواه النسائی- ابن کثیر) یعنی کسیکه چیزی را (از تعویذ ویا بند وتار) اویزان کند به همان چیز سپرده می شود ودر روایت مشکوة شریف است: «پناه به الله ازین که چیزی را اویزان کنم» (رواه ابوداؤد) .

در زمانه آنحضرت صلی الله علیه وسلم وصحابه کرام تعویذ به این میگفتند که به قرآن کریم ویا دیگر کلمات مأثوره کسی رادم میکردند ویا به سورة قل اعوذ برب الفلق، وقل اعوذ برب الناس ویا سورة فاتحه وسورة اخلاص کسی رادم میکردند وآنچه نوشته شود ودرگردن و یا دیگر حصه بدن اویزان ویا دوخته وبسته شود، این را دراصطلا ح شرع

تمتمه وتميمه ميگويد ودرشريعت از آن ممانعت وارد شده وتجربه گرديده كسيكه اينگونه تعويذها را خودش ويا به اولاد خود اويزان ميكند هميشه با امراض گوناگون مبتلاء ميگردد.

همچنين اشخاصی را ديده باشيد كه تعويذ ميكند وبر سر تعويذ از مردم پول جمع ميكنند هميشه در خواری وذلت وتنگی وفاقه پسر می برند وامراض لا علاج برآنها مسلط ميگردد ودر بعضی ها آثار بد اين عمل قبيح در اولاد شان ظاهر ميشود واين به چند وجوه است:

يكی اينكه بی ادبی وبی حرمتی قرآن پاك وكلمات واسماء الله است، دوم اينكه توكل وتوجه به غيرالله است، سوم اينكه گرفتن پول بطريقه باطل است، چهارم اين بر خلاف طريقه آنحضرت صلی الله عليه وسلم وبر خلاف عمل صحابه رضوان الله عليهم اجمعين وائمة مجتهدين وسلف صالحين رحمهم اللهاست.

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ارشاد آنحضرت صلی الله عليه وسلم را نقل كرده كه منترهای غير مسنون وتعويذها وبندهای كه از تار وتسمه ويا ديگر موره وغيره اويزان ميكنند اين از شرك است. (مشكوة- باب الطب والرقی- ابن كثير- ابوداؤد واحمد)

از حضرت زينب رضی الله عنها (زوجه ابن مسعود رضی الله عنه) منقول است كه عادت شريفه حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه همين بود كه چون به دروازه خانه ميرسيد برای اگاهی اهل خانه سرفه وتنحنح ميكرد تا اهل خانه از آمدنش با خبر باشند و آنهارا به كدام كار نا مناسب نه بينند. روزی بروفق عادتش وقتی به خانه تشريف آورد، گلوی خود را صاف وتازه كرد، درين اثنا زن پيرزالی نزدم نشسته بود كه مرا ازمرض حمرت دم ميكرد، من از عجله زنكه را در زير چارپائی پنهان نمودم. حضرت عبدالله بن مسعود در پهلويم نشست ديد كه درگردنم تار بسته است. از من پرسيد كه اين تار ورشته از چه است؟ گفتم كه اين تاری است دم كرده شده، پس او آن را از گردنم قطع نمود وفرمود كه اهل خانه عبدالله از شرك بی نياز است و فرمود كه من از آنحضرت صلی الله عليه وسلم شنيده ام كه اين دم ومنترهای غير شرعی وتعويذها وبندها وتسمه ها شرك است.

حضرت زينب رضی الله عنها ميفرمايد كه من برايش گفتم كه شما چرا اينگونه سخن مگوئيد درحاليكه من چشم درد بودم ونزد فلان يهودی رفتم، اوچشمم را دم نمود درحال جورشد، حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمود كه اين حركت شيطان بود كه در چشم شما دست می زد وقتيكه يهودی دم ميكرد قرار می شد، برای شما آن دعاء مأثوره از آنحضرت صلی الله

علیه وسلم کافی بود اینکه : «اذهب البأس رب الناس- اشف انت الشافی لا شفاء الا شفاءك شفآءً لا یغادر سقماً» (رواه ابوداؤد واحمد- کذا فی المشکوة وابن کثیر ص۹٤ ج/۲).

ازین روایت این هم معلوم شد که دم کردن بغیر مسلم مثل یهود ونصاری وهنود وغیره جایز نیست واگر به دم آنها کدام مریض صحت نیزیابد، باید عقیده نکند ونیز این هم معلوم شد که انداختن تار ویا بند ویا تسمه ویا موره ویا انگشتری ودیگر خرافات از جمله شرك است.

حضرت عقبة بن عامر رضی الله عنه ارشاد آنحضرت صلی الله علیه وسلم را نقل نموده که: « من علق تمیمة فقد اشرك» وفی روایة: « من تعلق تمیمة فلا اتم الله له ومن تعلق ودعة فلا ودع الله له» (رواه احمد فی مسنده- ابن کثیر). یعنی کسیکه تعویذ را اویزان کرد به تحقیق که شرك کرد وکسیکه تعویذ را ببندد الله تعالی اورا جور نکند وکسیکه گوش ماهی را اویزان کند الله تعالی اورا حفاظت نکند.

حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه میفرماید که از آنحضرت صلی الله علیه وسلم شنیده ام: میفرمود که: «من بی باك باشم اگر تریاق رانوشیدم ویا تعویذ را اویزان کنم ویا شعر را ازطرف خود بسرایم». (رواه ابوداؤد ومشکوة وابن کثیر ص۵۸۰ ج/۳ وکذا فی الدرالمنثور - انه اخرجه ابوداؤد والطبرانی والبیهقی عن ابن عمرو ص۲٦۹ ج/۵).

این روایات را مد نظر گرفته شما خود قضاوت کنید که اویختن وبستن تعویذها وبندها وتارها وموره ها وگوش ماهی ویا آویختن چیزی از کلمات قرآنیه وتعوذ بر آن ها چطور است؟ از روی شریعت محمدی این عمل ممنوع ومنافی با توکل وایمان ویقین است. اگر کسی بسیارشایق تعویذ است، سورة فاتحة وسوره اخلاص، سوره های قل اعوذ برب الفلق وقل اعوذ برب الناس را بخواند وبه مریض دم نماید، فریب جعل کاران و جادوگران وتعویذگران نخورند که اینها از راه باطل ایمان خودرا میفروشند وپول جمع میکنند، حالانکه خود این تعویذگران با هرگونه مصائب وامراض و افات مواجه اند، نمی توانند که از خود چیزی را دفع نمایند چه رد به مردمان دیگر.

در شریعت غرای محمدی مداوا ودرمان و دعاهای مأثور موجود اند که انسان مسلمان میتواند بدون پرداخت حق الزحمة وفیس وغیره بآن توسل جست.

(ان الله هو الشافی لکل امراض)

***
*

د تنظیم طلبه سلفیه دعوتی او تبلیغی پروگرامونه

د «دعوت» مجلی خبریال د کنړ ولایت له اسد آباد ځخه اطلاع راکوی چی د تنظیم طلبه سلفیه بلندویانو په حقیقت کی دیوی روښانی، پیاوړی او متحدې تولنی په لور مؤثر گامونه واخیستل او د هر ډول عنادونو او تعصباتو پر ضد ئی هم بنیادی اقدامات وکړل. د لوی اختر او جمعی د لمونځونو خطبی په ټول ولایت کی ددوی تر امامت لاندی انجام شوی، د ټولو ارخونو افراد ئی په یوصف کي ودرول او دویٔ ته ئی د اخلاص او صداقت عملی درس ورکړ، ددویٔ دغه مشن په واقعیت کی دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) د عملکرد تمثیل کاوه او په کنړ ولایت کی ئی ډیر نیك اثرات پریښودل، دا چی ددی ټولنی ځوان مسؤلیت پیژندونکی نسل په دغه رنگه صفا او اخلاص د عمل په ډگر کي گامونه واخلی، نو مونږ ئی د روښانه مستقبل پیلامه گڼو او له دوي ځخه تمنا لرو چی دغه رنگه مشن جاری وساتی او په تدریج سره ئی ټول ملك ته پراخه کړی، ددوی لپاره د زیات توفیق او بریالتوب دعاء کوو.

(اداره)

د تنظیم طلبه سلفیه تر اهتمام لاندی د پنځه شپیته تنو علماؤ او طالبانو یو وفد په ۱۹۹٤/٥/۱۸ نیټه د چارشنبی په ورځ له پیښور او باجوړ ځخه د کنړ په لور وخوځید، اسد آباد ته له رسیدلو سره سم د جماعة الدعوة د کنړ ولایتي امیر محترم مولوی صاحب عبدالغنی، د کنړ د ولایت سر پرست والی محترم مولوی صاحب غلام گل، د اسد آباد د جامع مسجد خطیب مولوی صاحب فضل جلال ورته ښه راغلاست ووایه او ددغه تبلیغی او دعوتی وفد په رسیدو ئی خوښی ښکاره کړه.

ځرنگه چی ددغه وفد اکثر غړی د تخار، بدخشان، پروان او کندوز د ولایت هستوگن وو پدی اساس ئی د امنیت په باب ځه تشویش دراود د کنړ د ولایت مسؤلینو، علماؤ، قومندانانو او مجاهدینو ورته اطمینان ورکړ او زیاته ئی کړه چی کنړ د امام الجهاد شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په قربانی او د هغه د مخلصو ملگرو په هلو ځلو د توحید او سنت زانگو او مرکز گرځیدلی دی، پدی اساس د لته د الله تعالی په فضل هیڅ امنیتی ستونزه نشته، نو د وفد ملگری مطمئن او د پنجشنبی په شپه ئی د تنظیم طلبه سلفیه په ولایتی دفتر کی یوه تربیتی اجتماع وکړه. د اجتماع په پیل کی د کلام الله

مجید څو آیاتونو تلاوت شول وروسته محترم ورور مجیب الرحمن «توحیدیار» د دعوت الی الله پر موضوع باندی بیان وکړ، وروسته محترم ورور سراج الإسلام د لوی اختر د لمانځه مسنونه طریقه بیان کړه، بیا محترم مولوی صاحب توکل خان د کنړ په اوضاع او حالاتو باندی بحث وکړ، وروسته ورور عبدالکریم «عبید» اختصاصي بیان وکړ او د وفد د تشکیل په اعلانولو سره اجتماع پای ته ورسیده.

د تنظیم طلبه سلفیه د وفد تشکیل مختلفو درو، ولسوالیو، علاقداریو او کلیو ته په لاندی ډول وو.

١- محترم مولوی صاحب محمد اسلام له دوه ملګرو سره د نور ګل ولسوالی ته

٢- محترم ورور اخوان الحق او لطف الله سرحدی لواء او د څوکي ولسوالی ته

٣- مولوي صاحب ګل حکیم له ملګرو سره د نرنګ ولسوالی ته

٤- محترم مولویصاحب رحمان الله «رحمانی» له ملګرو سره د باډیل دری ته

٥-محترم مولوي صاحب محمد نادر شاه له ملګرو سره نو آباد او تیشه‌کلی ته

٦- محترم ورور شمس الرحمن او شیر زمان او سعید الله د خاص کنړ ارازی او کلیګرام کلیو ته

٧- محترم مولوی صاحب عبدالغفار سره د ملګرو بهر آباد کلی ته

٨- محترم مولوی صاحب عبدالواحد سره د ملګرو پشد کلی ته

٩- محترم مولوی صاحب رحیم الله سره د ملګرو د نیوي کلی ته

١٠- محترم مولوی صاحب رحمت الله تخاری او محمد طارق نیشګام کلی ته

١١- محترم مولوی صاحب شیخ مجیب الرحمن او نور الله د اسمار ولسوالی ته

١٢- محترم مولوی صاحب عبدالغفور تخاری او عبدالغفور نصرتیار د مروري کلی ته

١٣- محترم مولوی صاحب عبدالرزاق ناصح سره د ملګرو د کرهالی کلی ته

١٤- محترم مولوی صاحب بیان الله سره د ملګرو د وټپور ولسوالی ته

١٥- محترم مولوی صاحب عبدالناصر او فضل ربی کټار قلعه کلی ته

١٦- محترم مولوی صاحب عبدالحي سره د ملګرو د قرو کلی ته

١٧- محترم مولوی صاحب عبیدالله کندوزی او توکل خان بارکندی کلی ته

١٨- محترم مولوی صاحب نعیم الله او خلیل احمد صاحب ټمنخیل کلی ته

١٩- محترم مولوی صاحب ذاکر الله او شازمین صاحب کنډګل او کولك کلیو ته

٢٠- محترم مولوی صاحب حفیظ الله سره د ملګرو عمار کلی ته

٢١- محترم مولوی صاحب عبدالقدیم سره د ملګرو سندری کلی ته

٢٢- محترم مولوی صاحب نعمت الله سره د ملګرو متین کلی ته

٢٣- محترم مولوی صاحب سراج اسلام او معصوم ګل ننګلام کلی ته

٢٤- محترم مولوی صاحب سراج الدین شاه ثلام کلی ته

٢٥- محترم ورور عبدالله محمدی او محمد اسحاق ودیګرام کلی ته

٢٦- محترم ورور حبیب الله سره د ملګرو لچلام کلی ته

٢٧- محترم ورونه حنیف الله، سلیم الله، بهرام خان کړنګل کلو ته

٢٨- محترم مولوي صاحب نظر محمد مانوګی کلی ته

٢٩- محترم ورور غلام الله بدخشانی او محمد یوسف دکندی کلی‌ته.

۳۰- محترم ورور سمیع الله سره د ملګرو ګل سلك کلی ته
۳۱- محترم ورور احمد شاه سره د ملګرو کلی ته
۳۲- محتر م ورور عبیدالله سره د ملګرو ماشوړی او شمبرك کلی ته
۳۳- محترم ورور ذاکر الله سر ه د ملګرو ورسك کلی ته
۳٤- محترم قاری صاحب عبیدالله د سنګار کلي ته
۳۵- محترم ورور عبدالحلیم د سلمان شاه کلی ته
۳٦- محترم ورور محمد ابراهیم سینځو کلی ته
۳۷- مرکز اسد آباد کی څرنګه چی د لوی اختر لمونځ او د عیدګاه پروګرام د کوچنی آختر پشان د تنظیم طلبه سلفیه په غاړه وه نو د نورو علاقو په اندازه مرکزکی ملګری زیات پاتی شول رحیم الله ملا تور عبدالناصر رباني فیضان الله مجیب الله، علیم الله، آیات الله، محمد دین ګل، حنیف الله، کفایت الله عبدالکریم «عبید».

د ملګر د تقسیم نه وروسته په ۱۹-۵-۱۹۹٤ نیټه دپنجشنبی په ورځ ټولو ملګرو خپلو خپلو ټاکل شویو سیمو او کلیو ته ولاړل، د اختر له ورځي نه مخکی ئی د جمعی په لمونځونو کی برخه واخیسته د جمعی لمونځونه او خطبی ئی له پرو ګرام سره سم اداء کړی او له لمانځه وروسته ئی درس قرآن او حدیث هم سرته ورسول، د خالی په ورځ په ټولو ټاکل شویو کلیو او سیمو کی د اختر لمونځونه د وفد د ټاکل شویو علماؤ له خوا سرته ورسیدل. د یکشنبي په ورځ سهار وختی اوه بجي د وفد ټول غړی د کنړ د ولایت ولایتی دفتر ته راغلل او هلته ئی یوه اجتماع وکړه، په اجتماع کی ټولو ملګرو خپله کار روائی بیان او د خلکو د خوښیو او خوشحالیو ستاینه ئی وکړه وروسته ورور عبدالکریم عبید د ټولو ملګرو شکریه اداء کړه چی د ډیرو ستونزو په ګالولو سره ئی په دغه تبلیغی دوره کی ګډون کړی ؤ، خصوصاً د هغو ملګرو ئی زیاته مننه وکړه چی د نورو ولایاتو استوګنو، بیا محترم ورور شیر زمان خان کندوزی په «اخلاص نیت» باندی یو بیان وکړ وروسته محترم ورور عبدالغفور تخاری د یو بیان په ترځ کی وویل چی دالله تعالی ډیره شکریه اداء کول پکار دی چی په ټول افغانستان کی کنړ یوازینی ولایت دی چی د سلفیت عقیده په کی حاکمه ده، د محترم ورور غلام الله بدخشانی له بیان وروسته د محترم ورور نور الله پروانی په اختتامی دعاء سره اجتماع پای ته ورسیده او ټول ملګری خپلو خپلو مدارسو او کورونو ته ستانه شول، یوازي عبدالکریم «عبید»، رحیم الله «ملاتور» فیضان الله - حیات الله - مجیب الله حنیف الله او محمد دین ګل د ځینی تنظیمی کارونو په خاطر اسد آباد کي پاتی شول.

د تنظیم طلبه سلفیه د دا ډول تبلیغی پروګرامونو ستایه د کنړ ولایت ټولو خاصو او عوامو کړی او دا ډول وفدونه ئی ډیر موثر بللی دی خو په خاص ډول محترم مولوی صاحب غلام ګل چی د ولایت او شوری سرپرست ؤ په یوه علاحده تشویقی لیك کی هم ددوی ستاینه کړی اودا ډول تبلیغی پروګرامونه ئی ډیر مؤثر بللی دی، همدا رنګه د اسد اباد د جامع مسجد خطیب محترم مولوی صاحب فضل جلال او د تعلیم او تربیی معاون محترم قاری صاحب دین محمد هم د تنظیم طلبه سلفیه ددعوتی پروګرامونو ستاینه او ددوی لپاره د موفقیت دعاء غوښتی ده، همدا رنګه محترم حاجی صاحب بختیار، حاجی صاحب روح الله، حاجی صاحب جانداد، حاجی صاحب پاچا، مولوی صاحب رحمت خان، مولوی صاحب فخر الدین، جګړن صاحب شیر خان، معلم صاحب مصطفی خان، خانزادګل، ملا رؤف، نجیب الله ، امیر جان، لعلی او محمد کریم ، مولوی صاحب مجاهد، مولوی صاحب شرف الدین، مولوی صاحب توکل او نورو مشرانو د تنظیم طلبه سلفیه ددغه دعوتی پروګرام مننه او ستاینه کړی او د آینده لپاره ئی ورته د لا بریالیتوب دعا ګانی کړی دی.

مولوی حضرت احمد لنډه پیژندنه

مرحوم الحاج مولوی حضرت احمد «ناصح» د الحاج عبدالرحیم اخونزاده زوی او په کال ۱۳۵۸ هـ ش کی د کونړ د ولایت د ننګلام په کلی کی زیږیدلی دی. ابتدائی تعلیم ئی ددی علاقی د جینو علماوٗ څخه کړی او پاتی تعلیمات ئی په کونړ او پیښور کی سرته رسولی دی چی په دی لړ کی ئی د تفسیر شریف څو دوری له شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) څخه هم کړی وی.

«حاجی ناصح» په کابل، هرات او کندز کی هم اوسیدلی دی او د اسلامی دعوت دنده ئی جاری ساتلی وه.

نوموړی په ۱۳۵۷ هـ ش کال کی د خپلی کورنی سره یوځای د ملحد رژیم د مسلط کیدو له امله له کندز څخه پاکستان ته هجرت وکړ چی په دی دوران کی ئی هم په درس او تدریس برسیره دعوت چلولی دی، د باجوړ د عبدالله بن زبیر رضی الله عنه په مدرسه کی ئی نهه کاله تدریس کړی دی او بیا د کونړ د ولایت په اسدآباد کی د ابوعبدالله مکی په مدرسه کی استاد وو. مرحوم ناصح د اپریشن او ناروغی له کبله یوه موده د تدریس نه پاتی وو، چی وروسته بیا د کلمو د انسداد په وجه د پیښور په لیدی ریډینګ هسپتال کی بستر او د اپریشن څخه پنځه ورځی وروسته په ۱۴۱٤/۱۲/۱ هـ ق نیټه د چهارشنبی په ورځ په حق ورسید، د هغه له وصیت سره سم د هغه مشر زوی (مولانا ابو عامر انصارالله) ئی د جنازی لمونځ وکړ او د باجوړ په شاهجهان آباد کیمپ کی په درنښت سره خاورو ته وسپارل شو.

(انا لله و انا الیه راجعون)

نوموړی د سلفیت د عقیدی کلک پیرو وو ځکه نو هر وخت به د یو لړ مشکلاتو او د خلقو د عکس العمل سره مخ کیده.

کله چی یو وخت د کندز د امام صاحب په ولسوالی کی په یوه لویه دینی مشاجره کی خپله عقیده په دلایلو سره برحقه ثابته کړه او مشاجره ئی وګټله، همدارنګی د هجرت په دوران کی ئی هم د قرآن او سنتو د حاکمیت او سلفی عقیدی د تحقق دپاره زیات بحثونه کړی او ښه په ثبات او جرأت سره ئی ددعوت چاری چلولی دی.

یوه وخت داسی هم راغلی چی په یو جومات کی چی ده په جهر سره امین وایه کلیوالو پنځه سوه کلداری جرمانه وټاکله خو وروسته دغه توطیه هم ناکامه شوه او اوس په همدی جومات کی په جهر سره امین ویل کیږی او خلق په حقیقت پوه شول چی د سلفیت لار د قرآن او سنت لار ده، له همدی امله د کیمپ ټول اوسیدونکی د مولوی ناصح په مرګ سخت خواشینی دی او هر وخت ورته دعا کوی.

ادفع بالتی هی احسن فا الذی بینك و بینه عداوة کانه ولی حمیم ط.

دلیکوالو بهیر

G.P.O. Box No.-614, Peshawar, Pakistan.

د باجوړ ښخه زمونږ همیشنی همکار عبدالرؤف افغانی صاحب لیکی:

محترمو: ددعوت د مجلی کارکونکو تاسو ټولو ته اولاً زه دخوږ نبی ﷺ دا تحفه وړاندی کوم:

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمو!مونږ د دعوت مجله ډیر په شوق سره لولو او د هری میاشتی په آخرکی د نوی دعوت مجلی ته سترگی په لاریو، خو زمونږ په زړه یو آرمان دی او هغه دادی چه تاسو به په مخکنو مجلو کی یو قسم داستانونه لیکل چه ډیر زړه راښکونکی او زړه دردونکی به وو، نو که یوځل بیا هغه داستانونو ته په مجله کی ځای ورکړی نوزمونږ د زیاتی خوشحالی سبب به شی. او بله خبره داده چه ما پدی ورقه کی (د کامیابی لار) په نامه یو مضمون ولیکه او په دی فکر می جوړ کړیدی چه د ټولو طلباؤ لپاره خصوصاً ددعوت په چلولو کی د هر قسم مشکل اسانتیا راولی او د ټولو مسلمانانو لپاره به عموماً د کامیابی ذریعه وگرځی او حق به مخ په وړاندی لاړشی او باطل به په هر ځای کی په گونډو شی نو ما دا کوشش وکړ او دا مضمون می ولیکه له تاسونه زه احترامانه هیله کوم چه زما دی مضمون ته په دعوت مجله کی ځای ورکړئ، نو دا به زمونږ لپاره د خوشحالی او د نوری رابطی سبب شی.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

ستاسی ورور عبدالرؤف «افغانی».

****

د دعوت او جهاد له پوهنتون ښخه گران ورور عبدالرحمن «الفت» صاحب لیکی:

د دعوت دمجلی محترمو کارکوونکو

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمو! له الله تعالی څخه درته غواړم چه نور لا هم ددعوت په کارونو کی مخ په وړاندی لاړشئ.

گرانو ورونو: ومی غوښتل چه ستاسو سره خپله قلمی رابطه قائمه کړم نو د اول ځل لپاره می ستاسو محترم حضور ته یوه قطعه شعر تقدیم کړو هیله کوم چه د اصلاح څخه وروسته ئی نشر ته وسپاری.

کامیاب او د تل لپاره بریالی اوسی.

والسلام

عبد الرحمن «الفت»

ددعوت او جهاد د پوهنتون محصل.

****

محترم عبد الاکبر ورور لیکی:

گرانو د دعوت مجلی کارکوونکو اولاً زما د زړه له کومی نه ډك پیرزونی ومنی هیله ده چه منظور به وی.

السلام علیکم ورحمة الله وبرکا ته

الله تعالی مو په خپل دی عظیم مشن کی همیشه بریالی لره. آمین.

محترمو!د دعوت مجله ماته د یو ملگری په واسطه میلاوشوه، د عمیقی مطالعی نه پس زما زړه اوچت شو او تاسی ته ددی خط د لیکلو باعث شو، هیله ده چه تاسی ماته د دعوت مجله په لاندی پته هرومرو راواستوئ تر څو د مجلی په فیض او برکتونو باندی مونږ هم فیض یاب شو، دا به ستاسی له خوا نه عین نوازش او احسان وی . شکریه

ستاسی ورور عبدالاکبر دکوهستان ضلع تحصیل پټن.

****

له سوات نه محترم ورور عبدالرحمن «بلوچستانی» صاحب لیکی:

سلامونه او احترامات ددعوت مجلی ټولو کارکوونکو ته وړاندی کوم.

له هر څه د مخه د شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله پاك روح ته د زړه نه دعاگانی کوم او بیا ددعوت مجلی په

ترقی تاسی ته مبارکی وړاندی کوم. باقی عرض دادی چه مونږ د علم د طلب په خاطر د صوبه بلوچستان نه سرحد ته راغلو، نو پدغه وجه مونږ تاسو سره تعلق قائمول غواړو، هیله ده چه تا سو ددعوت مجله هره گنه مونږ ته په خپل وخت راواستوی.

ستاسو ورور طالب العلم عبدالرحمن «بلوچستانی - سوات تحصیل مته».

****

محترم ورور نجیب الله «حقیار» صاحب لیکی:

محترم د توحید، جهاد او ددعوت د مجلی هم عقیده ملگرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمو:

ډیر زیات خوښ یم چه زه هر وخت د دعوت د مجلی د مطالعی سره مخامخ کیږم، ددعوت مجله هر لوستونکی ته د دریو خبرو بلنه ورکوی: توحید، دعوت او جهاد.

د مجلی مرام هم داسی معلومیږی چی مونږ به اول په ځان کی د توحید عقیده پیداکوو او وروسته به ناخبرو خلکو ته د توحید دعوت ورکوو.

الله تعالی دی ټول اسلامی امت ته پدی نیك کار کی د عمل کولو توفیق ورکړی. (آمین).

والسلام

نجیب الله حقیار د باجوړ د کرهالی د کمپ څخه.

****

محترم ورور قادرالله «ترابی» صاحب لیکی:

ددعوت مجلی محترمو چلوونکو:

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

له خاوند متعال څخه ستاسی د روغ صحت په امیدیم، ددعوت د مجلی په باره کی باید ووایم ښه مجله او په زړه پوری مطالب نشروی، د دعوت د مجلی ښه والی خو ډیر زیات دی، او له تعصب نه بلکل صفا مجله ده او همیشه حقایقو

ته ترجیح ورکوی او په همدی اساس یی لوستونکی هم ډیر زیات دی.

او د الله تعالی نه د نور زیات توفیق غوښتونکی یم.

والسلام

ستاسو ورور قادرالله ترابی.

د پیښور د ساینس او ټیکنالوژی د اسلامی یونیورسټی محصل.

****

د دعوت مجلی قدرمنو لوستونکو وژنو!

مونږهم په خپل وار د دعوت د مجلی دټولو کار کوونکو له اړخه ستاسو تودو سلامونو ته وعلیکم السلام ورحمت- الله وبرکاته وایو، د دعوت د مجلی د ستاینی مو ډیره ډیره مننه.

کومو ورونو چه خپل مضامین او اشعار مونږ ته راستولی دی هغه مو هئیت تحریر ته وسپارل که د چاپ وړ ؤ انشاءالله ډیر ژر به په راتلونکو شمارو کی چاپ شی. البته خپل نظریات او مضامین مفصل او واضح لیکی.

کومو ورونو چه د دعوت مجلی د لاس ته راوړلو غوښتنه کړی هغوی دی مونږ سره کلنی اشتراك وکړی او سل (۱۰۰) کلداری دی په بینکی حساب د مجلی دفتر ته راواستوی، البته د پوستی (ډاگ) مصارف به ئی د مجلی دفتر برداشت کړی او تاسو ته به هره گنه ستاسو په آدرس واستول شی.

ستاسو د لابریالیتوب په هیله.

والسلام

(اداره)

بانکی آدرس

افغان اسلامي خبری اداره - اکاونټ نمبر (۷-۱۰۶۳) نیشنل بینك اف پاکستان صدر روډ پشاور.

Afghan Islamic News Agency A/c No: 1063-7 National ÆBank of Pakistan Saddar Road Peshawar

ارشاد نبوی

بسم الله الرحمن الرحيم

«مَنْ كانَتْ لَهُ ثَلاثَ بَنَات أو ثَلاثَ أخواتْ او إبنتان او أُختَان فأَحْسَنَ صُحْبَتهنّ واتَقْى اللّه فيهنّ فَلهُ الجَنّة»

ترجمه: أبو سعيد خدري وایی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي: د چا چه دوه یا دری لونړه یا خویندی وی او ښه سلوك ورسره وکړی او ددوی حقوق د تقویٰ په رڼا کی وساتی، نو ددهٔ لپاره به جنت وی.

د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) له ویناوو څخه

د جهاد په آوایلو کی چی د مجاهدینو د داخلی اختلافاتو په اثر په لغمان کی څو تنه تلف شول، د پیښور په «ورسك» کی د هغوی د فاتحی په نوم یوه غونډه جوړه شوی وَه چه په هغی کی زمونږ شهید مشر یوه عالمانه وینا کړی وه، دا دی د هغی وینا څو عمده ټکی:

« مونږ نه پوهیږو چی مجاهدین په خپلو منځو کی ولی جنګیږی؟ که د دوی هدف د الله تعالی د رضاء حصول وی، نو باید پوه شی چه «القاتل والمقتول کلاهما فی النار» او که د دوی دا جنګونه د ګوندی مشرانو د ارضاء او ګټو ساتلو لپاره وی نو اقلاً دومره فکر دی وکړی چی د مشرانو تر منځ د اختلاف اندازه څومره ده؟ که مشرانو یو بل ته سپکه خبره وکړه یائی یو بل په سوك څپیړه ووهل، نو بیا دی مجاهدین سره ټوپکونو او توپونو ته لاس کړی، حال داچی دوی په خوښی یو بل سره کښینی، پاځی، په یوه دسترخوان ناست وی، د یو بل په غم او ښادی کی شرکت کوی، نو کله چی دوئ اقلاً پخپلو منځو کی تریخوالی نه شی برداشت کولای، نو بیا ولی مجاهدین د دوئ لپاره ځانونه تلف کوی، په یو والی او وحدت کی ستاسو عزت دی، له هر کار نه وړاندی وګوری چی الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم پدی هکله څه حکم کوی... »